# د تواريخ اول کِتاب

## پېژندګلو

اول تواريخ په کِتاب کښې دوه ساده خبرې دا دی چې د خُدائ پاک فرمانبرداری ځان سره برکت راوړی او د هغهٔ نافرمانی د تباهۍ باعث جوړيږی. دا کِتاب د يهوداه د بادشاهۍ د بنيادی تاريخ په حقله خبرې کوی يعنې هم هغه بادشاهی چې د اِسرائيل نه جدا شوې وه. اول تواريخ د يو څو نسب‌نامو سره شروع کيږی او په خاص توګه په کښې د حضرت داؤد عليه السلام او د حضرت سليمان عليه السلام ذکر کيږی. په دې کِتاب کښې د حضرت داؤد عليه السلام د بادشاهۍ قيصه بيانوی او هم د دې خبرې وضاحت کوی او پرې رڼا اچوی چې د حضرت داؤد عليه السلام په عبادت کښې کومه ژوره دلچسپی وه. او د مالِک خُدائ د کور د جوړولو په حقله چې د حضرت داؤد عليه السلام کومې منصوبې وې هم د هغې په حقله تفصيلی خبرې کوی، کوم چې بيا وروستو د هغهٔ زوئ حضرت سليمان عليه السلام جوړه کړه. اول تواريخ په دې وجه وليکلے شو چې په کښې دا خبره يقينی کړی چې جلاوطن خلق بيا راواپس شول او د خُدائ پاک وفاداری يې خپلو خلقو ته ښکاره کړه. د حفظ کولو دپاره ۱۳:۲۲ آيت "کهٔ تهٔ هغه ټول قانون ومنې کوم چې مالِک خُدائ موسىٰ له د بنی اِسرائيلو دپاره ورکړے وو، نو تهٔ به کامياب يې. تکړه شه او حوصله مضبوطه کړه او چې د هيڅ نه هم ونهٔ يريږې."

## د حضرت آدم نه تر حضرت اِبراهيم پورې اولاد

۱ ﴿۱﴾ آدم د شيث پلار وو، شيث د انوش پلار وو، انوش د قينان پلار وو، ﴿۲﴾ قينان د
محلل‌اِيل پلار وو، محلل‌اِيل د يارد پلار وو. ﴿۳﴾ يارد د حنوک پلار وو او حنوک د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مِتهوشله پلار وو، مِتهوشله د لمک پلار وو، ۴ او لمک د نوح پلار وو. د نوح درې
زامن وُو، شیم، حام او یافت. ۵ دا د یافت اولاد دے: جُمر، ماجوج، مادی، یاوان،
تویل، مسک او تیراس. ۶ د جُمر اولاد: اشکناز، ریفت او تُجرمه. ۷ د یاوان اولاد:
اِلیسه، ترسیس، قبرص او رهودس. ۸ دا د حام اولاد دے: کوش، مِصر، لیبیا او
کنعان. ۹ د کوش اولاد د سِیبا، حویله، سبته، راماه او د سبتیکه خلق وُو. د راماه
اولاد د شیبا او د ددان خلق وُو. ۱۰ کوش د نمرود پلار وو، نمرود د دُنیا ورومبے
طاقتور جنګیالے وو. ۱۱ د مِصر اولاد د لودی، عنامی، لهابی، نفتوحی، ۱۲ فتروسی،
کسلوحی او د کریت خلق وُو، چې د هغوئ اولاد فلستیان دی. ۱۳ د کنعان مشرے
زوئ صیدا وو. کنعان د دې قومونو هم پلار وو: حت، ۱۴ یبوسی، اموری، جرجاسی،
۱۵ حِوی، عرقی، سینی، ۱۶ اروادی، صماری او حماتی. ۱۷ دا د شیم اولاد دے:
عیلام، اسور، ارفکسد، لود او آرام. د آرام اولاد عُوض، حُول، جتر او مسک وُو. ۱۸
ارفکسد د سِلح پلار وو او سِلح د عِبر پلار وو. ۱۹ د عِبر دوه زامن وُو، د یو نوم فلج
چې مطلب یې تقسیم وو، ځکه چې د هغهٔ په وخت کښې د دُنیا خلق تقسیم شول. او د بل
نوم یُقطان وو. ۲۰ د یُقطان اولاد د الموداد، سلف، حصارماوت، اِراخ، ۲۱ هدورام،
اُوزال، دِقله، ۲۲ عوبال، ابی‌مائیل، شیبا، ۲۳ اوفیر، حویله او یوباب. دا ټول د یُقطان
اولاد وو. ۲۴ د شیم نه تر ابرام پورې نسب‌نامه داسې ده: شیم، ارفکسد، سِلح، ۲۵
عِبر، فلج، رعو، ۲۶ سروګ، نحور، تارح، ۲۷ او ابرام چې د اِبراهیم په نوم مشهور وو.

## د حضرت اِسمٰعیل اولاد

۲۸ د اِبراهیم دوه زامن وُو، اِسحاق او اِسمٰعیل. ۲۹ د اِسمٰعیل زامن د دولسو قبیلو
مشران شول: نبایوت چې مشر وو، قیدار، ادبئیل، مِبسام، ۳۰ مِشماع، دومه، مسا،
حدد، تیما، ۳۱ یطور، نفیس او قِدمه. ۳۲ د اِبراهیم یوه وینځه وه چې نوم یې قطوره
وو، چې د هغې نه یې شپږ زامن پیدا شول: زمران، یُقسان، مِدان، میدیان، اسباق او
سوخ. د یُقسان دوه زامن وُو: شیبا او ددان. ۳۳ د میدیان پینځهٔ زامن وُو: عیفه، عِفر،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حنوک، ابیداع او اِلدعا. دا ټول د قطوره اولاد وو.

## د عِیسو اولاد

۳۴ د اِبراهیم د زوئ اِسحاق زامن عِیسو او یعقوب ؤو. ۳۵ د عِیسو زامن الیفز،
رعوایل، یعوس، یعلام او قورح ؤو. ۳۶ د الیفز اولاد دا وو: تیمان، اومر، صفو، جعتام،
قنز او عمالیق. د عمالیق مور تمنع وه. ۳۷ د رعوایل اولاد نحت، زارح، سمه او مِزه
وو.

## د ادوم اولنی اوسېدونکی

۳۸-۴۲ د ادوم اولنی اوسېدونکی د سعیر د دې زامنو اولاد وو: لوطان د حوری او
هومام قبیلو پلار نیکۀ وو. د لوطان یوه خور وه چې نوم یې تمنع وو. سوبل د علوان،
مانحت، عیبال، سفو او اونام ډلو پلار نیکۀ وو. د صبعون دوه زامن آیه او عنه ؤو. عنه د
دیسون پلار وو او دیسون د حمران، اشبان، یتران او کِران ډلو پلار نیکۀ وو. ایصر د
بِلهان، زعوان او یعقان ډلو پلار نیکۀ وو. دیسان د عُوض او اران ډلو پلار نیکۀ وو.

## د ادوم بادشاهان

۴۳-۵۰ دې بادشاهانو په یو بل پسې د ادوم په مُلک حکومت وکړو، په هغه وخت کښې
چې د هغې نه مخکښې د بنی اِسرائیلو په مُلک کښې بادشاهان نۀ ؤو: د دِنهابا د ښار نه
بالع چې د بعور زوئ وو، د بُصره نه د زارح زوئ یوباب، د تیمان د علاقې حشیم، د
عویت د بدد زوئ حدد، چې هغۀ د موآب په مُلک کښې میدیانیانو له په یو جنګ کښې
شکست ورکړو. د مسرقه د ښار نه شمله، د سیند د غاړې ښار رحوبوت نه ساؤل، د
عکبور زوئ بعل حنان، د پاؤُ د ښار نه حدد، د هغۀ ښځه مهیطب‌ایل وه چې د میضاهاب

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نمسیٔ او د مطرِد لور وه. ۵۱ د ادوم خلق په دې ډلو کښې تقسیم وُو: تمنع، علوه،
یتیت، ۵۲ اُهلیبامه، ایله، فینون، ۵۳ قنز، تیمان، مِبصار، ۵۴ مجدِاېل او عِرام.

## د یهوداه اولاد

۲ ۱ د یعقوب دولس زامن وُو: روبین، شمعون، لیوی، یهوداه، یساکار، زبولون، ۲
دان، یوسف، بنیامین، نفتالی، جاد او آشر. ۳ د یهوداه ټول پینځهٔ زامن وُو. د هغهٔ د
کنعانئ ښځې بت‌سوع نه درې زامن وُو: عیر، اونان او سیله. د هغهٔ مشر زوئ عیر
دومره خراب وو چې مالِک خُدائ هغه ووژلو. ۴ د یهوداه د خپلې اِنږور تامار نه دوه
زامن فارص او زارح وُو. نو د یهوداه ټول پینځهٔ زامن وُو. ۵ د فارص دوه زامن
حصرون او حمول وُو. ۶ د هغهٔ د ورور زارح پینځهٔ زامن وُو: زِمری، ایتان، هیمان،
کل‌کُول او دردع. ۷ د زارح د اولاد نه یو کس د کرمی زوئ عکن په بنی اِسرائیلو باندې
ځکه افت راوستلو چې کوم مالِ غنیمت خُدائ پاک ته وقف شوے وو نو په هغې کښې
یې خیانت وکړو. ۸ د ایتان یو زوئ عزریاه وو.

## د حضرت داؤد نسب‌نامه

۹ د حصرون درې زامن یرحمئیل، رام او کلوبی وُو. ۱۰ د رام نه تر یَسی پورې
نسب‌نامه داسې ده: رام، عمی‌نداب، نحشون چې دا د یهوداه د قبیلې یو مشر سړے وو،
۱۱ سلمون، بوعز، ۱۲ عوبید او یَسی. ۱۳ د یَسی اووهٔ زامن وُو، د عُمر په ترتیب
باندې هغوئ داسې وُو: اِلیاب، ابینداب، سِمعه، ۱۴ نتنی‌ایل، ردی، ۱۵ عوضم او داؤد.
۱۶ د هغهٔ دوه لوڼه ضرویاه او ابی‌جیل هم وې. د یَسی د لور ضرویاه درې زامن وُو:
ابیشی، یوآب او عساهیل. ۱۷ د هغهٔ بلې لور ابی‌جیل د یتر سره وادهٔ وکړو، چې د
اِسمٰعیل د اولاد نه وو او د هغوئ یو زوئ پیدا شو چې نوم یې عماسا وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حصرون نور اولاد

۱۸ د حصرون زوئ کالب عزوبه وادۀ کړه او يوه لور يې ترې نه وشوله چې نوم يې
يريعوت وو. د هغې درې زامن وُو: يشر، سوياب او اردون. ۱۹ چې کله عزوبه مړه
شوه نو کالب اِفراته وادۀ کړه او د هغوئ يو زوئ وشو چې نوم يې حُور وو. ۲۰ د حُور
زوئ اوری وو او د هغۀ نمسے بضلی‌ایل وو. ۲۱ کله چې حصرون د شپېتو کالو وو،
نو هغۀ د مکير د لور سره وادۀ وکړو، چې د جِلعاد خور وه. د هغوئ يو زوئ وشو چې
نوم يې سجوب وو، ۲۲ او د سجوب يو زوئ وو چې نوم يې يائير وو. يائير د جِلعاد په
علاقه کښې په درويشتو ښارونو باندې حکومت کولو. ۲۳ خو د جسور او شام
حکومتونو هلته شپېتۀ ښارونه فتح کړل، چې په دې کښې د يائير او قنات کلی او د دې
نزدې ښارونه شامل وُو. هلته چې څومره خلق اوسېدل هغوئ د مکير اولاد وو. مکير د
جِلعاد پلار وو. ۲۴ د حصرون د مرګ نه پس، د هغۀ زوئ کالب اِفرات وادۀ کړه، چې
د هغۀ د پلار کونډه وه. د هغوئ يو زوئ وشو چې نوم يې اشور وو، چې دې د تقوع پلار
وو.

## د حصرون د زوئ يرحمئيل اولاد

۲۵ د حصرون د مشر زوئ يرحمئيل پينځۀ زامن وُو: د ټولو نه مشر رام وو او ورپسې
بونه، اورن، عوضم او اخياه وُو. ۲۶-۲۷ د رام درې زامن وُو: معض، يمين او عيقر. د
يرحمئيل يوه بله ښځه وه چې نوم يې عطاره وو او د هغوئ يو زوئ اونام وو. ۲۸ د
اونام دوه زامن سمی او يدع وُو، د سمی هم دوه زامن ندب او ابيسُور وُو. ۲۹ ابيسُور
يوه ښځه وکړه چې نوم يې ابی‌خېل وو، د هغوئ دوه زامن اخبان او مولِد وُو. ۳۰ د
ابيسُور د ورور ندب دوه زامن سلد او افائم وُو، خو د سلد اولاد نۀ وو او مړ شو. ۳۱
افائم د يسعی پلار وو، يسعی د سيسان پلار وو او سيسان د اخلی پلار وو. ۳۲ د سمی د
ورور يدع دوه زامن يتر او يونتن وُو، خو يتر بغېر د زامنو نه مړ شو. ۳۳ د يونتن دوه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زامن پلټ او زازا وُو. دا ټول د يرحمئيل اولاد وو. ۳۴ د سيسان زامن نۀ وُو صِرف
لوڼه يې وې. د هغۀ يو مِصرے نوکر وو چې نوم يې يرخع وو، ۳۵ چې هغۀ له يې خپله
يوه لور ورکړه چې وادۀ يې کړى. د هغوئ يو زوئ وو چې نوم يې عتى وو. ۳۶ د عتى نه
تر اليسمع پورې نسب‌نامه داسې ده: عتى، ناتن، زاباد، ۳۷ افلال، عوبيد، ۳۸ ياهُو،
عزرياه، ۳۹ خلص، اِلعاسه، ۴۰ سِسمى، سلوم، ۴۱ يقمياه او اليسمع.

## د کالب نور اولاد

۴۲ د يرحمئيل د ورور د کالب د مشر زوئ نوم ميسا وو. ميسا د زيف پلار وو، چې
دې د مريسه پلار وو چې هغه د حبرون پلار وو. ۴۳ د حبرون څلور زامن وُو: قورح،
تفوح، رِقم او سمع. ۴۴ سمى د رحم پلار او د يُرقعام نيکۀ وو. د سمع ورور رِقم د سمى
پلار وو، ۴۵ چې سمى د معون پلار وو، او معون د بيت‌صور پلار وو. ۴۶ د کالب يوه
وينځه وه چې نوم يې عيفه وو او د هغې نه يې درې نور زامن وُو: حاران، موضا او
جازز. د حاران هم يو زوئ وو چې نوم يې جازز وو. ۴۷ يهدى نومې يو سړے وو چې د
هغۀ شپږ زامن وُو: رجم، يوتام، جسان، فِلِط، عيفه او شعف. ۴۸ د کالب يوه وينځه
معکه هم وه، چې د هغې نه يې دوه زامن وُو، شبر او تِرحنه. ۴۹ وروستو يې دوه نور
زامن پيدا شول: شعف، چا چې د مدمنه ښار جوړ کړے وو، او سِوا، چا چې د مکبينه
او جبعه ښارونه جوړ کړى وُو. د دې نه علاوه د کالب يوه لور وه چې نوم يې عکسه وو.
۵۰ دا هم د کالب اولاد وو. حُور د کالب او د هغۀ د ښځې اِفرات مشر زوئ وو. د حُور
زوئ سوبل د قِريَت‌يعريم ښار جوړ کړے وو. ۵۱ د هغۀ دويم زوئ ساما چا چې د
بيت‌لحم ښار جوړ کړے وو او د هغۀ دريم زوئ خارف چا چې د بيت‌جادر ښار جوړ
کړے وو. ۵۲ سوبل، چا چې د قِريَت‌يعريم ښار جوړ کړے وو، هغه د هرائى د خلقو او
د هغه نيمو خلقو پلار نيکۀ وو چې څوک د منوخوت په ښار کښې اوسېدل، ۵۳ او
کومې قبيلې چې په قِريَت‌يعريم کښې وې دا دى: اِتريان، فُوتيان، سماتيان او مِسراعيان.
د صُرعه او استاول ښارونو خلق د دې قبيلو کسان وُو. ۵۴ سلما د بيت‌لحم، د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نطوفاتی، عطرات‌بیت‌یوآب او صُرعی د خلقو پلار نیکهٔ وو، چې صُرعی په مانحت کښې
د دوو ډلو نه یوه وه، ۵۵ او کومې قبیلې چې په لیکلو کښې ماهِران وُو هغوئ په یعبیض
کښې اوسېدل: هغوئ تِرعایان، سِمعیان او سوکاتیان وُو. هغوئ د حمات د قینیانو اولاد
وو. حمات د ریکاب د خاندان پلار نیکهٔ وو.

## د حضرت داؤد بادشاه اولاد

۱-۳ چې کله داؤد په حبرون کښې وو نو د عُمر په ترتیب یې دا زامن پېدا شوی وُو:
امنون، چې د هغهٔ مور د یزرعیل اخینوعم وه. دانیال، چې د هغهٔ مور د کرمل ابی‌جیل
وه. ابی‌سلوم، چې د هغهٔ مور معکه وه او معکه د جسور د تلمی بادشاه لور وه. ادونیاه،
چې د هغهٔ مور حجیت وه. سفطیاه، چې د هغهٔ مور ابیطال وه. اِترعام، چې د هغهٔ مور
عِجلاه وه. ۴ دا شپږ واړه په حبرون کښې پېدا شوی وُو، چرته چې هغهٔ اووهٔ کاله او
شپږ میاشتې بادشاهی وکړه. د هغې نه پس په یروشلم کښې هغهٔ درې دېرش کاله
حکومت وکړو. ۵ په یروشلم کښې چې د داؤد کوم زامن پېدا شوی وُو په هغوئ کښې
سموع، سوباب، ناتن او سلیمان شامل دی. د هغوئ مور بت‌سبع وه چې د عمی‌ایل لور
وه. ۶ د هغهٔ نور نههٔ زامن هم وُو: اِبحار، الیسوع، الیفلط، ۷ نجه، نفج، یفیع، ۸
الیسمع، الیدع او الیفلط. ۹ د دې ټولو زامنو نه علاوه د داؤد د وینځو زامن هم وُو. د
هغهٔ یوه لور تامار هم وه.

## د حضرت سلیمان بادشاه اولاد

۱۰ دا د سلیمان اولاد دے: سلیمان، رحُبعام، ابیاه، آسا، یهوسفط، ۱۱ یهورام،
اخزیاه، یوآس، ۱۲ امصیاه، عُزیاه، یوتام، ۱۳ احاز، حزقیاه، منسی، ۱۴ امون او
یوسیاه. ۱۵ د یوسیاه څلور زامن د عُمر په ترتیب دا وُو: یوحانان، یهویقیم، صدقیاه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يهوآخز. ۱۶ د يهويقيم دوه زامن وُو: يهوياکين او صدقياه.

## د يهوياکين بادشاه اولاد

۱۷ دا د يهوياکين بادشاه اولاد دے، يهوياکين بابليانو قېدى بوتلے وو. د يهوياکين اووۀ
زامن وُو: شلتيئ‌ايل، ۱۸ مُلکِرام، فداياه، شيناضر، يقمياه، هوسمع او ندبياه. ۱۹ د
فداياه دوه زامن وُو، زرُبابل او سِمعى. زرُبابل د دوو زامنو پلار وو، مسلام او حننياه. او
د هغۀ يوه لور سلوميت وه. ۲۰ د هغۀ پينځۀ نور زامن وُو: حسوبه، اُهل، برکياه،
حسدياه او يوسب‌حسد. ۲۱ د حننياه دوه زامن فلطياه او يشعياه وُو. د يشعياه زوئ
رفاياه وو، د رفاياه زوئ ارنان وو، د ارنان زوئ عبدياه وو او د عبدياه زوئ سکانياه وو.
۲۲ د سکانياه يو زوئ سمعياه او پينځۀ نمسى وُو: حطوش، اِجال، بريح، نعرياه او
سافط. ۲۳ د نعرياه درې زامن اليوعينى، حزقياه او عزريقام وُو. ۲۴ د اليوعينى اووۀ
زامن وُو: هُوداوياه، اِلياسب، فلاياه، عقوب، يوحانان، دلاياه او عنانى.

## د يهوداه نور اولاد

۴ ۱ دا د يهوداه څۀ اولاد دے: فارص، حصرون، کرمى، حُور او سوبل. ۲ سوبل
د رياياه پلار وو، چې دا د يحت پلار وو، چې هغه د اخومى او د لاهد پلار وو، کوم چې د
هغه خلقو پلار نيکۀ وو چې په صُرعه کښې اوسېدل. ۳-۴ حُور د کالب د ښځې
اِفرات مشر زوئ وو او د هغۀ اولاد د بيت‌لحم ښار جوړ کړے وو. د حُور درې زامن
ايتام، فنواېل او ايصر وُو. د ايتام درې زامن وُو: يزرعيل، اِسمع او اِدباس او يوه يې لور
حضل الفونى وه. فنواېل د جدور ښار جوړ کړے وو او ايصر د حوسه ښار جوړ کړے
وو. ۵ اشور چا چې د تقوع ښار جوړ کړے وو د هغۀ دوه ښځې حيلاه او نعراه وې.
۶ د هغۀ د خپلې ښځې نعراه څلور زامن وُو: اخوسام، حِفر، تمنى او هخسترى. ۷ د
اشور د خپلې ښځې حيلاه نه درې زامن وُو: ضرت، اِضهار او اِتنان. ۸ قوض د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عنوب، ضوبيبه او د حروم د زوئ اخرخېل د قبيلو پلار نيکهٔ وو. ۹ يو سړے وو چې
نوم يې يعبيض وو، هغه په خپلو ورونو کښې ډېر عزتمند سړے وو. په هغهٔ باندې خپلې
مور يعبيض نوم اېښے وو، ځکه چې د هغهٔ د پېدا کېدو درد ډېر سخت وو. ۱۰ خو
يعبيض د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک ته سوال وکړو، "خُدايه پاکه، تهٔ به ما له برکت راکوې
او زما مُلک به لويَوې. زما مل شه او د هر هغه خراب عمل نه مې وساته چې ما له
تکليف راکوى." او چې هغهٔ د څهٔ سوال کړے وو نو خُدائ پاک هغه هر څهٔ ورکړل.

## د نورو کورَنو نسب‌نامې

۱۱ د سوخه د ورور کالب يو زوئ محير وو. محير د استون پلار وو، ۱۲ چې د هغهٔ
درې زامن وُو: بيت‌رفا، فاسح او تخِنه. تخِنه د ناحس ښار جوړ کړے وو. د دې سړو
اولاد په ريکه کښې اوسېدو. ۱۳ د قنز دوه زامن عتنى‌اېل او شراياه وُو. د عتنى‌اېل هم
دوه زامن حتت او معوناتى وُو. ۱۴ معوناتى د عفره پلار وو. شراياه د يوآب پلار وو. او
يوآب هغه وړومبے کس وو چې د ماهِرو خلقو وادى يې آباده کړه، ځکه چې هلته ټول
خلق ماهِر کاريګران وُو. ۱۵ د يفُنه زوئ کالب درې زامن وُو: عيرو، ايله او نعم. او ايله
د قنز پلار وو. ۱۶ د يهلل‌اېل څلور زامن وُو: زيف، زيفه، تيرياه او اسرى‌اېل. ۱۷-۱۸
د عزره څلور زامن وُو: يتر، مرِد، عِفر او يلون. مرِد بِتياه وادهٔ کړه، چې د فِرعون لور
وه، د هغوئ يوه لور مريم وه او دوه يې زامن سمى او اِسباح وُو. اِسباح د استموع ښار
جوړ کړے وو. مرِد د يهوداه قبيلې د يوې ښځې سره هم وادهٔ وکړو او د هغوئ درې
زامن وُو: يرد، چې هغهٔ د جدور ښار جوړ کړے وو، حِبر چې هغهٔ د شوکو ښار جوړ
کړے وو، او يقوتئيل چې هغهٔ د زنوح ښار جوړ کړے وو. ۱۹ هودياه د نحم خور وادهٔ
کړه. د هغوئ اولاد د جرمى ډله وه، چې هغه د قعيله په ښار کښې اوسېده او د معکې ډله
چې د استموع په ښار کښې اوسېده. ۲۰ د سيمون څلور زامن وُو: امنون، رِنه، بِن‌حنان
او تيلون. د يسعى دوه زامن وُو: زوحت او بِن‌زوحت.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهوداه د زوئ سِلح اولاد

۲۱ سیله د یهوداه د زامنو نه یو زوئ وو. د هغهٔ په اولاد کښې عیر شامل وو، چا چې د
لکه ښار جوړ کړے وو، لعده چا چې د مریسه ښار جوړ کړے وو، د لتې کپړې
جوړونکی قبیله چې د بیت‌اشبیع په ښار کښې اوسېده، ۲۲ یوقیم او هغه خلق چې د
کوزیبا په ښار کښې اوسېدل، او یوآس او شراف، چا چې موآبیانې ښځې وادهٔ کړې او په
بیت‌لحم کښې اوسېدل. دا د ډېر پخوانی وخت حِساب کِتاب دے. ۲۳ هغوئ د بادشاه د
خِدمت کُلالان وُو او د نتائیم او د جدیره په ښارونو کښې اوسېدل.

## د شمعون اولاد

۲۴ د شمعون پینځهٔ زامن وُو: نمواېل، یمین، یریب، زارح او ساؤل. ۲۵ د ساؤل زوئ
سلوم وو، د سلوم زوئ مِبسام وو او د مِبسام زوئ مِشماع وو. ۲۶ د مِشماع د اولاد
نسب‌نامه داسې ده: حمواېل، زکور او سِمعی. ۲۷ د سِمعی شپاړس زامن او شپږ لوڼه
وې، خو د هغهٔ د خپلوانو اولاد کم وو او د شمعون قبیله د یهوداه د قبیلې په شان لویه نهٔ
شوه. ۲۸ د داؤد بادشاه تر وخته پورې د شمعون اولاد په بیرسبع، مولاده،
حصارسعول، ۲۹ بِلهاه، عضم، تولاد، ۳۰ بتواېل، حُرمه، صِقلاج، ۳۱ بیت‌مرکبوت،
حصارسوسم، بیت‌برائی او شعریم کښې اوسېدل. ۳۲ هغوئ په پینځو نورو ځایونو کښې
هم اوسېدل: ایتام، عین، رِمون، توکن، عسن، ۳۳ او په ګېرچاپېره کلو کښې، د بعلات
ښار پورې. دا هغه حِساب کِتاب دے چې هغوئ د خپلو کورَنو او د هغه ځایونو په حقله
ساتلو چې چرته هغوئ اوسېدل. ۳۴-۳۸ دا سرِی د خپلو قبیلو مشران وُو: مسوباب،
یملیک، یوشه چې د امصیاه زوئ وو، یواېل، یاهُو چې د یوسبیاه زوئ وو، یوسبیاه د
شرایاه زوئ وو، شرایاه د عسیئیل زوئ وو، الیوعینی، یعقوبه، یشوخایه، عسایاه،
عدی‌اېل، یسمئیل، بنایاه، زیزا، زیزا د شفعی زوئ وو، شفعی د الون زوئ وو، الون د
یدعیاه زوئ وو، یدعیاه د سِمری زوئ وو او سِمری د سمعیاه زوئ وو. څکه چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ خاندان غټېدلو، ۳۹ هغوئ تقريباً تر جدور پورې نمرپرېواتۀ طرف ته خوارۀ شول
او د هغه مېدان نمرخاتۀ طرف ته يې خپلې ګډې څرولې چرته چې هغه ښار دے. ۴۰
هغوئ د څرن ښۀ آباد مُلکونه وموندل چې په کولاو مُلک کښې خوارۀ وارۀ وُو چې
خاموش او د امن نه ډک وو. د هغوئ نه مخکښې چې کوم خلق هلته اوسېدل هغوئ
حاميان وُو. ۴۱ د يهوداه بادشاه حزقياه په وخت کښې د هغه ډلو مشران جرار ته لاړل
او هلته يې حاميان او معونيان او د هغوئ خېمې تباه کړې او د هغوئ ټول خلق يې ووژل
او تر نن ورځې پورې يې د نوم او نشان پته نۀ لګی. د هغوئ په ځايونو کښې په خپله آباد
شول، ځکه چې هغوئ ته د رَمو دپاره د څرن د زمکې ضرورت وو. ۴۲ د شمعون
قبيلې نور پينځۀ سوه کسان نمرخاتۀ طرف ادوم ته لاړل. د هغوئ مشری د يسعی زامنو
کوله: فلطياه، نعرياه، رفاياه او عُزی‌ايل. ۴۳ هلته هغوئ هغه پاتې شوی عماليقيان ووژل
کوم چې تښتېدلی وُو او هغوئ تر ننه پورې هلته اوسېدل.

## د روبين اولاد

**۵** ۱ دا د روبين اولاد دے چې هغه د يعقوب مشر زوئ وو. هغۀ د خپل پلار د بلې
ښځې سره د زنا کولو په وجه د خپل پلار بې‌عزتی وکړه نو چې د مشری زوئ کوم
حقُونه هغۀ لرل، هغه ختم شول او هغه حقُونه يوسف ته مِلاو شول. ۲ خو د يهوداه
قبيله تکړه شوه او ټولو قبيلو له يې يو بادشاه ورکړو، خو پېدائشی حق د يوسف سره وو.
۳ د يعقوب د مشر زوئ روبين څلور زامن وُو: حنوک، فلو، حصرون او کرمی. ۴-
۶ دا د يوايل اولاد دے: سمعياه، جوج، سِمعی، ميکاه، ريایاه، بعل او بئيره. اسوری
بادشاه تغلت فلاسر د روبين قبيلې مشر بئيره ونيولو او د قبيلې سره يې جلاوطن کړو.
۷ د روبين په قبيله کښې د دې د قبيلو د مشرانو نسب‌نامه: يعی‌ايل، زکرياه، ۸ او
بالع، د عزز زوئ او د سمع نمسے، چې د يوايل د قبيلې وو. دا قبيله په عروعير کښې او
د هغه ځائ نه د نبو پورې او د بعل معون په علاقه کښې اوسېده. ۹ د جِلعاد په مُلک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې د هغوئ ډېر ښاروی ؤو او هغه مُلک يې ونيولو چې نمرخاتهٔ طرف ته د صحرا د
لمنې او د فرات سيند پورې خور دے. ۱۰ د ساؤل بادشاه په وخت کښې د روبين
قبيلې په هاجريانو حمله وکړه، هغوئ يې په جنګ کښې ووژل او د جِلعاد نمرخاتهٔ ته په
ټوله برخه کښې د هغوئ په خيمو کښې اوسېدل.

## د جاد اولاد

۱۱ د جاد قبيله د بسن په مُلک کښې د روبين شمال ته د سلکه نمرخاتهٔ طرف پورې
اوسېدله. ۱۲ يوايل په بسن کښې مشر وو، سافم ورپسې دويم کس وو او درېم مشر
يعنې او د هغهٔ نه پس سافط وو. ۱۳ د دې اوو ډلو د قبيلې نور کسان دا دی: ميکائيل،
مسلام، شيبا، يوری، يعکان، زيع او عِبر. ۱۴ هغوئ د حُوری زوئ ابیخېل اولاد دے،
چې د هغوئ پلار نيکهٔ دا دی: ابیخېل، حُوری، يارواح، جِلعاد، ميکائيل، يسيسی، يحدو
او بُوز. ۱۵ اخی چې د عبدیايل زوئ او د جونی نمسے وو هغه د دې ډلو مشر وو.
۱۶ هغوئ د بسن او جِلعاد په علاقه کښې، هلته په ښارونو او د شارون د څرن په ټولو
مُلکونو کښې اوسېدل. ۱۷ دا نسب‌نامه د يهوداه بادشاه يوتام او د اِسرائيل بادشاه
يربعام په وخت کښې ليکلے شوې وه.

## د نمرخاتهٔ طرف ته د قبيلو لښکر

۱۸ د روبين، جاد او د نمرخاتهٔ طرف منسی په قبيلو کښې څلور څلويښت زره اووهٔ
سوه او شپېتهٔ فوجيان ؤو، چې د ډالونو، تُورو او غشو په وړلو او استعمالولو باندې ښهٔ
پوهېدل. ۱۹ هغوئ د جنګ دپاره د يطور، نفيس او نودب هاجری قبيلو خِلاف لاړل.
۲۰ د جنګ په وخت کښې هغوئ خُدائ پاک ته سوال وکړو، هغهٔ د هغوئ فرياد
واورېدو ځکه چې په هغهٔ باندې يې ايمان لرلو. نو داسې هاجريانو او د هغوئ ټولو ملګرو
شکست وخوړو. ۲۱ د بنی اِسرائيلو نمرخاتهٔ طرف ته قبيلو د دشمن نه پنځوس زره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوښان، دوه لاکه او پنځوس زره ګډې او دوه زره خرۀ ونیول او سل زره کسان يې
جنګی قېديان کړل. ۲۲ هغوئ ډېر دشمنان ووژل، ځکه چې خُدائ پاک په دې جنګ
کښې د هغوئ مل وو. او هغوئ تر جلاوطنۍ پورې د هاجريانو په علاقه کښې اوسېدل.

## نمرخاتۀ طرف د منسی نيمه قبيله

۲۳ د منسی نيمې قبيلې خلق د بسن په علاقه کښې د بعل حرمون، سنير او حرمون غر
پورې اوسېدل او د هغوئ آبادی ډېره زياته شوه. ۲۴ دا کسان د خپلو ډلو مشران وُو:
عِفر، يسعی، اِلی‌ايل، عزرائيل، يرمياه، هُوداوياه او يحدايل. هغوئ ټول ښۀ تکړه فوجيان
او د خپلو ډلو مشهور مشران وُو.

## د نمرخاتۀ طرف ته د قبيلو ويستلے کېدل

۲۵ خو خلقو د خپل پلار نيکۀ خُدائ پاک سره خيانت وکړو او د هغه نورو قومونو د
معبودانو د عبادت په وجه يې د هغۀ خِلاف بغاوت وکړو کوم قومونه چې خُدائ پاک په
هغه وخت تباه کړی وُو چې بنی اِسرائيليان مخ په وړاندې تلل. ۲۶ نو خُدائ پاک د
اسور بادشاه پول ولېږلو چې د هغوئ په مُلک حمله وکړی (چې هغه په تغلت فلاسر
باندې هم مشهور وو). هغۀ د روبين، جاد او د منسی نيمه قبيله وويستله او دې ته يې
مجبور کړل چې تر نن پورې په خلح، خابور، هارا او د جوزان سيند سره اوسيږی.

## د مشرانو اِمامانو نسب‌نامه

۶ ۱ د ليوی درې زامن وُو: جيرسون، قُهات او مراری. ۲ د قُهات څلور زامن وُو:
عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزی‌ايل. ۳ د عُمرام دوه زامن هارون او موسیٰ وُو او يوه
يې لور مريم وه. د هارون څلور زامن وُو: ندب، ابيهُو، اِلی‌عزر او اِتمر. ۴ د اِلی‌عزر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولاد نسل په نسل دا دے: فينحاس، ابيسوع، ۵ بُقى، عُزى، ۶ زرخياه، مرايوت، ۷
امرياه، اخيطوب، ۸ صدوق، اخيمعض، ۹ عزرياه، يوحانان، ۱۰ عزرياه چا چې
د مالِک خُدائ په هغه کور کښې خِدمت کولو کوم چې سليمان بادشاه په يروشلم کښې
جوړ کړے وو، ۱۱ امرياه، اخيطوب، ۱۲ صدوق، سلوم، ۱۳ خِلقياه، عزرياه، ۱۴
شراياه او يهوصدق. ۱۵ نبوکدنضر بادشاه يهوصدق سره د يهوداه او يروشلم هغه خلقو
وويستلو کوم چې مالِک خُدائ پردى مُلک ته جلاوطن کړى وُو.

## د ليوى نور اولاد

۱۶ د ليوى درې زامن وُو: جيرسون، قُهات او مرارى. ۱۷ په هغوئ کښې د هر يو هم
زامن وُو. جيرسون د لِبنى او سِمعى پلار وو، ۱۸ قُهات د عُمرام، اِضهار، حبرون او
عُزىايل پلار وو، ۱۹ او مرارى د محلى او موشى پلار وو. دا د نسب‌نامې په مطابق د
ليويانو قبيلې دى. ۲۰ دا نسل په نسل د جيرسون اولاد دے: لِبنى، يحت، زِمه، ۲۱
يوآخ، عدو، زارح او يترى. ۲۲ دا نسل په نسل د قُهات اولاد دے: عمى‌نداب، قورح،
اسير، ۲۳ القنه، ابى‌آسف، اسير، ۲۴ تحت، اورى‌ايل، عُزياه او ساؤل. ۲۵ د القنه دوه
زامن عماسى او اخيموت وُو. ۲۶ دا نسل په نسل د اخيموت اولاد دے: القنه، ضوفى،
نحت، ۲۷ اِلياب، يروحام او القنه. ۲۸ د سموئيل دوه زامن وُو: يوايل مشر وو او ابياه
کشر وو. ۲۹ دا نسل په نسل د مرارى اولاد دے: محلى، لِبنى، سِمعى، عُزه، ۳۰ سِمعا،
حجياه او عساياه.

## د مالِک خُدائ د کور سندرغاړى

۳۱ دا هغه سړى وُو چې داؤد بادشاه د مالِک خُدائ په کور کښې د سندرو خِدمت
دپاره مقرر کړى وُو، دا د هغې نه پس وُو چې د لوظ صندوق هلته يوړلے شو. ۳۲
هغوئ د مالِک خُدائ د حضور خيمې په وړاندې د موسيقۍ سره عبادت کولو، دا د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سلیمان د مالِک خُدائ کور د جوړولو نه مخکښې وخت وو. هغوئ دا کارونه د اصُولو
په مطابق کول. ۳۳ چا چې د خپلو زامنو سره خِدمت کولو د هغوئ نسب‌نامه داسې
ده: د قُهات ډله: هیمان چې د اولنو موسیقارانو مشر وو، هغه د یوایل زوئ وو. شا ته د
هغۀ نسب‌نامه داسې ده: حیمان، یوایل، سموئیل، ۳۴ القنه، یروحام، اِلی‌ایل، توح، ۳۵
صُوف، القنه، محت، عماسی، ۳۶ القنه، یوایل، عزریاه، صفنیاه، ۳۷ تحت، اسیر،
ابی‌آسف، قورح، ۳۸ اِضهار، قُهات، لیوی او یعقوب. ۳۹ آسف د دویمو موسیقارانو
مشر وو. د لیوی نه پس د هغۀ نسب‌نامه داسې ده: آسف، برکیاه، سِمعا، ۴۰ میکائیل،
بعسیاه، مُلکیاه، ۴۱ اِتنی، زارح، عدایاه، ۴۲ ایتان، زِمه، سِمعی، ۴۳ یحت، جیرسون
او لیوی. ۴۴ د مراری قبیلې ایتان د دریمې سندرې مشر وو. شا ته لیوی ته د هغۀ
نسب‌نامه داسې ده: قیسی، عبدی، ملوک، ۴۵ حسبیاه، امصیاه، خِلقیاه، ۴۶ امصی،
بانی، سمر، ۴۷ محلی، موشی، مراری او لیوی. ۴۸ نورو لیویانو ته د مالِک خُدائ په
کور کښې باقی ټول خِدمت حواله شوے وو.

## د هارون اولاد

۴۹ خو هارون او د هغۀ اولاد د خوشبویۍ نذرانې پېش کولې او هغه قربانۍ یې پېش
کولې چې په قربان‌ګاه باندې سوزولے شوې. هغوئ په زیات مقدس ځائ کښې د ټول
عبادت او د بنی اِسرائیلو د کفارې ادا کولو ذمه وار وُو. هغوئ دا هر څۀ د هغه اصُولو
په مطابق کول کوم چې د خُدائ پاک خِدمت کوونکی موسیٰ ورته ښودلی وُو. ۵۰ دا د
هارون اولاد دي: اِلی‌عزر، فینحاس، ابیسوع، ۵۱ بُقی، عُزی، زرخیاه، ۵۲ مرایوت،
امریاه، اخیطوب، ۵۳ صدوق او اخیمعض.

## د لیویانو د اوسېدو ځایونه

۵۴ دا هغه ښارونه دی چې د هارون اولاد ته حواله شوی وُو چې هغه د قُهات قبیله ده.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوئ ته به د هغې زمکې وړومبۍ برخه مِلاوېده کومه چې ليويانو ته حواله شوې وه. ۵۵
په دې کښې د يهوداه په علاقه کښې حبرون او د دې نه گېرچاپېره د څرن زمکې شاملې
وې، ۵۶ اگر چې د هغه ښار پټې او کلې د يفُنه زوئ کالب په حواله وُو. ۵۷-۵۹ د پناه
دا ښارونه سره د څرن د زمکې د هارون اولاد ته حواله شوی وُو: حبرون، لِبناه، يتير،
استموع، حَولون، دبير، عسن او بيت‌شمس. ۶۰ د بنيامين په علاقه کښې هغوئ ته دا
ښارونه سره د څرن د زمکې حواله شوی وُو: جبعه، علمت او عنتوت. دا ټول ديارلس
ښارونه وُو چې د هغوئ مکمل خاندان په کښې اوسېدل. ۶۱ نمرېريواتۀ طرف ته د
منسی په علاقه کښې لس ښارونه د پچې په ذريعه د قُهات پاتې قبيلې ته خاندان په
خاندان حواله شوی وُو. ۶۲ د جيرسون قبيلې ته کورَنو په مطابق ديارلس ښارونه د
يساکار، آشر، نفتالی او نمرخاتۀ طرف ته په بسن کښې د منسی په علاقو کښې حواله
شوی وُو. ۶۳ هم دغه شان، د روبين، جاد او زبولون په علاقو کښې دولس ښارونه د
مراری قبيلې ته خاندان په خاندان حواله شوی وُو. ۶۴ نو داسې بنی اِسرائيلو ليويانو ته
د اوسېدو دپاره ښارونه حواله کړل، سره د څرن د زمکې چې د دې ښارونو نه
گېرچاپېره وې. ۶۵ د يهوداه، شمعون او بنيامين په علاقه کښې هغه ښارونه هم د پچې
په ذريعه حواله شوی وُو. د هغه ښارونو ذِکر وړاندې شوے دے. ۶۶ د قُهات قبيلې څۀ
کورَنو ته د اِفرائيم په علاقه کښې ښارونه او د څرن زمکې حواله شوې وې: ۶۷ شِکم
چې د اِفرائيم په غرونو کښې د پناه ښار دے او ورسره جزر، ۶۸ يُقمام، بيت‌حورون،
۶۹ ايالون او جات رِمون. ۷۰ د قُهات پاتې اولاد ته د منسی د نيمې قبيلې د علاقې نه د
عانير او بلعام ښارونه سره د گېرچاپېره د څرن د زمکې حواله شوی وُو. ۷۱ د
جيرسون قبيلې کورَنو ته دا ښارونه، سره د گېرچاپېره د څرن د زمکو حواله شوی وُو: د
نمرخاتۀ منسی په علاقه کښې: په بسن کښې جولان، او عستارات. ۷۲ د يساکار په
علاقه کښې: قادِس، دبرت، ۷۳ رامات او عانيم چې د څرن زمکې ورسره وې. ۷۴ د
آشر په علاقه کښې: مسل، عبدون، ۷۵ حُقوق او رِحوب چې د څرن زمکې ورسره وې.
۷۶ د نفتالی په علاقه کښې: په گليل کښې قادِس، حمون او قِريَتائم چې د څرن زمکې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورسره وي. ۷۷ د مرارى قبيلې باقى پاتې کورَنو ته دا ښارونه سره د دې نه گېرچاپېره د
ځرن د زمکو حواله شوى وُو: د زبولون په علاقه کښې: رِمون او تبور. ۷۸ د اُردن
سيند نه پورې د يريحو نمرخاتهٔ طرف ته، د روبين په علاقه کښې: په اوچته زمکه باندې
بصر، يهض، ۷۹ قديمات او مفعت چې د ځرن زمکې ورسره وې. ۸۰ د جاد په علاقه
کښې: په جِلعاد کښې رامات، محنايم، ۸۱ حسبون او يعزير چې د ځرن زمکې ورسره
وې.

## د يساکار اولاد

۷ ۱ د يساکار څلور زامن وُو: تولع، فُوه، يسوب او سِمرون. ۲ د تولع شپږ زامن
وُو: عُزى، رفاياه، يرى‌ايل، يحمى، ابسام او سموئيل. هغوئ د تولع د قبيلې اولنى مشران
وُو. د داؤد بادشاه په زمانه کښې د دې ډلو د ټولو تکړه فوجيانو شمېر دوويشت زره او
شپږ سوه وو. ۳ د عُزى يو زوئ اِزراخياه وو. اِزراخياه او د هغهٔ څلور زامن، ميکائيل،
عبدياه، يوايل او يسياه ټول د ډلو مشران وُو. ۴ د هغوئ دومره ډېرې ښځې او بچى وُو
چې د هغوئ اولاد د دې جوګه وو چې فوجى خِدمت له يې شپږ دېرش زره سړى ورکړل.
۵ د منلے شوى حِساب کِتاب په مطابق د يساکار قبيلې د ټولو کورَنو اووهٔ اتيا زره
داسې سړى شمېرلے شوى وُو چې کوم د فوجى خِدمت کولو قابل وُو.

## د بنيامين او د دان اولاد

۶ د بنيامين درې زامن وُو: بالع، بکر او يديعيل. ۷ د بالع پينځهٔ زامن وُو: اصبان،
عُزى، عُزى‌ايل، يريموت او عيرى. د هغوئ په ډله کښې د قبيلو مشران او تکړه فوجيان
وُو. د هغوئ په اولاد کښې دوويشت زره او څلور دېرش سړى شامل وُو چې د فوجى
کار کولو قابل وُو. ۸ د بکر نههٔ زامن وُو: زميره، يوآس، اِلى‌عزر، اليوعينى، عُمرى،
يريموت، ابياه، عنتوت او علمت. ۹ د هغوئ په نسب‌نامه کښې شل زره او دوه سوه د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قبیلو مشرانو او تکړه فوجیانو نومونه لیکلی شوی وُو. ۱۰ د یدیعیل یو زوئ بِلهان وو او
د بِلهان اووۀ زامن وُو: یعوس، بنیامین، اهُود، کنعانه، زیتان، ترسیس او اخیسحر. ۱۱
هغوئ د قبیلې مشران او تکړه فوجیان وُو. د هغوئ په اولاد کښې اوولس زره او دوه
سوه داسې سړی شامل وو چې کوم د فوجی کار کولو قابل وُو. ۱۲ د سفیم او حُفیم
تعلق هم د دې قبیلې سره وو. حشیم د احیر زوئ وو.

## د نفتالی اولاد

۱۳ د نفتالی څلور زامن وُو: یحزی‌ایل، جونی، یصر، سلوم. هغوئ د یعقوب د بلې
ښځې بِلهاه اولاد وو.

## د منسی اولاد

۱۴ د منسی د آرامی وینځې نه دوه زامن اسری‌ایل او مکیر وُو. مکیر د جِلعاد پلار وو.
۱۵ مکیر یوه ښځه د حُفیم او یوه ښځه د سفیم دپاره وکړه. د هغۀ د خور نوم معکه وو.
د مکیر دویم زوئ صِلافحاد وو او د هغۀ صِرف لوڼه وې. ۱۶ د مکیر د ښځې معکې
دوه زامن پیدا شول، چې په هغوئ باندې یې فرس او شرس نومونه کیښودل. د فرس دوه
زامن اولام او رِقم وُو، ۱۷ او د اولام یو زوئ وو چې نوم یې بدان وو. دا ټول د جِلعاد
اولاد دے چې د مکیر زوئ او د منسی نمسے وو. ۱۸ د هغۀ د خور همولکت درې
زامن وُو: اِشهود، ابیعزر او محله. ۱۹ د سمیدع څلور زامن وُو: اخیان، شِکم، لِقحی او
انیعام.

## د اِفرائیم اولاد

۲۰ دا نسل په نسل د اِفرائیم اولاد دے: سوتلح، بیرِد، تحت، اِلیعده، تحت، ۲۱ زاباد او
سوتلح. د اِفرائیم دوه نور زامن ایصر او اِلیعد څوک چې په هغه وخت کښې ووژلے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول چې کله هغوئ د جات د خلقو د څاروو پټولو کوشش کولو. ﴿۲۲﴾ د هغوئ پلار
اِفرائيم تر ډېرو ورځو پورې په هغوئ پسې غمژن وو او د هغهٔ خپلوان تسلیٰ ورکولو له
ورله راتلل. ﴿۲۳﴾ هغه د خپلې ښځې سره بيا څملاستو او هغه اُميدواره شوه او يو زوئ
يې پيدا شو. هغهٔ ورباندې بريعاه نوم کېښودو، دا د هغه مصيبت په وجه چې د هغوئ په
خاندان باندې راغلے وو. ﴿۲۴﴾ د اِفرائيم يوه لور وه چې نوم يې سيراه وو. هغې د برِه او
ښکته بيت‌حورون او عُزن سيراه ښارونه جوړ کړل. ﴿۲۵﴾ د اِفرائيم يو بل زوئ هم وو چې
نوم يې رفح وو، چې د هغهٔ اولاد دا دے: رسف، تلاح، تحن، ﴿۲۶﴾ لعدان، عميهود،
اليسمع، ﴿۲۷﴾ نون او يشوَع. ﴿۲۸﴾ کومه علاقه چې هغوئ ونيوله او په کښې اوسېدل په
دې کښې بيت‌ايل او د دې نه ګېرچاپېره ښارونه، د نمرخاتهٔ طرف نعران او د نمرپرېواتهٔ
طرف ته جزر او د دې نه ګېرچاپېره ښارونه شامل وُو. په دې کښې شِکم او عياه او د
دې نه ګېرچاپېره ښارونه هم شامل دی. ﴿۲۹﴾ د منسی اولاد د بيت‌شان، تعنک، مِجدو او
دور او د دې نه ګېرچاپېره ښارونه ونيول. دا ټول هغه ځايونه دی چرته چې د يعقوب د
زوئ يوسف اولاد اوسېدو.

## د آشر اولاد

﴿۳۰﴾ دا د آشر اولاد دے. د هغهٔ څلور زامن وُو: يمنه، اِسواه، اِسوی او بريعاه، او يوه يې
لور سِره وه. ﴿۳۱﴾ د بريعاه دوه زامن حِبر او مُلکی‌ايل وُو. مُلکی‌ايل د برزاويت ښار جوړ
کړو. ﴿۳۲﴾ د حِبر درې زامن وُو: يفليط، شومير او خوتام، او يوه يې لور سوع وه. ﴿۳۳﴾ د
يفليط درې زامن وُو: فاساک، بمهال او عسوات. ﴿۳۴﴾ د سمر زامن اخی، روهجه، يُحبه
او آرام وُو. ﴿۳۵﴾ د هغهٔ د ورور حيلم څلور زامن وُو: صوفح، اِمنع، سلس او عمل. ﴿۳۶﴾
د صوفح اولاد دا وو: سوح، حرنفر، سعال، بيری، اِمراه، ﴿۳۷﴾ بصر، هُود، سما، سلسه،
يتران او بيرا. ﴿۳۸﴾ د يتر اولاد دا وو: يفُنه، فِسفا، ارا، ﴿۳۹﴾ او د عُله اولاد دا وو: ارخ،
حنی‌ايل او رضياه. ﴿۴۰﴾ دا ټول د آشر اولاد وو. هغوئ د خپلو ډلو اولنی مشران، تکړه او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مشهور جنګیالی او داسې مشران ؤُو چې مثال یې نۀ وو. د آشر په اولاد کښې شپږویشت
زره داسې سړی ؤُو چې د فوجی کار کولو قابل ؤُو.

## د بنیامین اولاد

٨ ١ د بنیامین پینځۀ زامن ؤُو، د عُمر په ترتیب هغوئ داسې دی: بالع، اشبیل،
اخرخ، ٢ نوحه او رفا. ٣ د بالع اولاد دا وو: ادار، جیرا، ابیهود، ٤ ابیسوع،
نعمان، اخوع، ٥ جیرا، سفوفان او حیرام. ٦-٧ د اهُود اولاد نعمان، اخیاه او
جیرا وو. هغوئ د هغه کورَنو مشران ؤُو چې په جبعه کښې اوسېدل، خو هغوئ په زور
وویستلے شول او په مانحت کښې اوسېدل. جیرا په سفر کښې د هغوئ مشری کوله.
جیرا د عُزا او اخیهود پلار وو. ٨-٩ د سحریم دوه ښځې، حشیم او بعراه طلاقې
کړې. وروستو چې کله هغه د موآب په مُلک کښې اوسېدو نو هغۀ هودس وادۀ کړه او
اووۀ زامن یې پېدا شول: یوباب، ضِبیه، میسا، مُلکام، ١٠ یعوض، سکیاه او مِرمه. د
هغۀ ټول زامن د کورَنو مشران شول. ١١ د هغۀ د حشیم نه هم دوه زامن پیدا شول:
ابی‌طوب او الفعل. ١٢ د الفعل درې زامن ؤُو: عِبر، مِشعام او سامد. دا سامد وو چې
هغۀ د اونو او لد ښارونه او ګېرچاپېره کلی جوړ کړل.

## بنیامینیان په جات او ایالون کښې

١٣ بریعاه او سمع د هغه ډلو مشران ؤُو چې د ایالون په ښار کښې اوسېدې او هغه
خلق یې وشړل چې د جات په ښار کښې اوسېدل. ١٤ د بریعاه په اولاد کښې اخیو،
شاشق، یریموت، ١٥ زبدیاه، عراد، عدر، ١٦ میکائیل، اِسفاه او یوخا شامل ؤُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## بنیامینیان په یروشلم کښې

۱۷ د الفعل په اولاد کښې دا کسان شامل وُو: زبدیاه، مسلام، حِزقی، حِبر، ۱۸
یسمری، یزلیاه او یویاب. ۱۹ د سِمعی په اولاد کښې دا کسان شامل وُو: یقیم، زِکری،
زبدی، ۲۰ العینی، ضلتی اِلی‌ایل، ۲۱ عدایاه، برایاه او سِمرات. ۲۲ د شاشق په اولاد
کښې دا کسان شامل وُو: اِسفان، عِبر، اِلی‌ایل، ۲۳ عبدون، زِکری، حنان، ۲۴ حننیاه،
عیلام، عنتوتیاه، ۲۵ یفدیاه او فنوایل. ۲۶ د یروحام په اولاد کښې دا کسان شامل وُو:
سمسری، شحاریاه، عتلیاه، ۲۷ یعرسیاه، الیاس او زِکری. ۲۸ دا د خپلو ډلو اولنی
مشران وُو، د هغوئ نومونه په نسب‌نامه کښې لیکلے شوی وُو او هغوئ ټول په یروشلم
کښې اوسېدل.

## بنیامینیان په جبعون او یروشلم کښې

۲۹ یعی‌ایل د جبعون ښار جوړ کړو او هلته اوسېدو. د هغهٔ د ښځې نوم معکه وو، ۳۰
او د هغهٔ مشر زوئ عبدون وو. د هغهٔ نور زامن صور، قیس، بعل، نیر، ندب، ۳۱
جدور، اخیو، زکر، ۳۲ او مِقلوت چې د سِمعا پلار وو. د هغوئ اولاد په یروشلم کښې د
خپلې قبیلې د نورو کورنو سره نزدې اوسېدل.

## د ساؤل بادشاه خاندان

۳۳ نیر د قیس پلار وو او قیس د ساؤل بادشاه پلار وو. د ساؤل څلور زامن وو: یونتن،
مُلکی‌شوَع، ابیناداب او اشبعل. ۳۴ یونتن د مریب بعل پلار وو، چې هغه د میکاه پلار
وو. ۳۵ د میکاه څلور زامن وُو: فیتون، مُلک، تاریع او احاز. ۳۶ احاز د یهوعده پلار
وو، چې هغه د دریو زامنو پلار وو: علمت، عزماوت او زِمری. زِمری د موضا پلار وو،
۳۷ موضا د بِنعه پلار وو، بِنعه د رفعه، رفعه د اِلعاسه، اِلعاسه د اصیل پلار وو. ۳۸ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اصیل شپږ زامن وُو: عزریقام، بوکرو، اِسمٰعیل، سعریاه، عبدیاه او حنان. ۳۹ د اصیل
د ورور عیشق درېِ زامن وُو: اولام، یعوس او الیفلط. ۴۰ د اولام زامن تکړه فوجیان او
د غشو ویشتونکی وُو. د هغهٔ ټول زامن او نمسی یو نیم سل وُو. دا ټول کسان د بنیامین
اولاد وو.

## د خلقو آزادېدل او واپس راتلل

۹ ۱ د ټولو بنی اِسرائیلو نسب‌نامه لیکلے شوې وه او دا معلومات د بنی اِسرائیلو د
بادشاهانو د تاریخ په کِتاب کښې لیکلے شوی دی. د یهوداه خلق د خپلې نافرمانۍ په
وجه بابل ته ویستلے شوی وُو. ۲ وړومبی کسان چې په خپلو پخوانو ښارونو کښې
جائیدادونو ته راواپس شول نو په هغې کښې اِمامان، لیویان، د مالِک خُدائ د کور
خِدمت کوونکی او نور بنی اِسرائیلیان وُو. ۳ د یهوداه، بنیامین، اِفرائیم او منسی قبیلو
خلق یروشلم ته د اوسېدو دپاره لاړل. ۴-۶ د یهوداه د قبیلې لس کم اووهٔ سوه
خاندان داسې وُو چې لاړل او په یروشلم کښې اوسېدل. په دې کښې د یهوداه د قبیلې د
فارص اولاد د قبیلې مشر عوتی وو، چې د عمیهود زوئ او د عُمری نمسے وو. د هغهٔ په
پلار نیکهٔ کښې اِمری او بانی شامل وُو. د یهوداه زوئ سیله د قبیلې مشر عسایاه وو، چې
هغه د خپل خاندان مشر وو. د یهوداه زوئ زارح د قبیلې مشر یعی‌ایل وو. ۷-۸ د
بنیامین قبیلې دا کسان لاړل او په یروشلم کښې اوسېدل: د مسلام زوئ سلو، چې مسلام
د هُوداویاه زوئ وو، هُوداویاه د هسینواه زوئ وو، او ورسره د یروحام زوئ اِبنیاه وو،
ایله چې د عُزی زوئ او د میکری نمسے وو، د سفطیاه زوئ مسلام، سفطیاه د رعواېل
زوئ وو او رعواېل د اِبنیاه زوئ وو. ۹ د دې قبیلې نهٔ سوه شپږ پنځوس خاندان لاړل
او هلته اوسېدل. د دې لیکلے شوو نومونو ټول سړی د کورَنو مشران وُو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## هغه اِمامان چې يروشلم ته د اوسېدو دپاره لاړل

۱۰-۱۲ په واپس راغلو اِمامانو کښې دا کسان وُو: يدعياه، يهويريب او يکين. د خِلقياه
زوئ عزرياه چې د مالِک خُدائ د کور مشر آفسر وو، چې د هغۀ په پلار نيکۀ کښې
مسلام، صدوق، مرايوت او اخيطوب شامل وُو. د يروحام زوئ عداياه، چې د هغۀ په
پلار نيکۀ کښې فشحور او مُلکياه شامل وُو، او ورسره د عدی‌ايل زوئ معسی، چې د هغۀ
په پلار نيکۀ کښې يحزيراه، مسلام، مسلميت او اِمير شامل وُو. ۱۳ کوم اِمامان چې د
ډلو مشران وُو هغه ټول يو زر اووۀ سوه او شپېتۀ وُو. هغوئ د خُدائ پاک د کور د
خِدمت د کار دپاره ښۀ تکړه سړی وُو.

## هغه ليويان چې واپس راغلل او په يروشلم کښې اوسېدل

۱۴-۱۶ دا ليويان يروشلم ته واپس راغلل: د حسوب زوئ سمعياه، چې د هغۀ په پلار
نيکۀ کښې د مراری د قبيلې عزريقام او حسبياه شامل وُو، بقبقر، حرس، جلال او د ميکا
زوئ متنياه، چې د هغۀ په پلار نيکۀ کښې زِکری او آسف شامل وُو، د سمعياه زوئ
عبدياه، چې د هغۀ په پلار نيکۀ کښې جلال او يدوتون شامل وُو، برکياه، چې د آسا زوئ
او القنه نمسے وو، چې هغه د نطوفاتی ښار په علاقه کښې اوسېدو.

## د مالِک خُدائ د کور څوکيدارانو راواپس کېدل او په يروشلم کښې اوسېدل

۱۷ د مالِک خُدائ د کور څوکيداران په يروشلم کښې اوسېدل: سلوم، عقوب، طلمون
او اخيمان. سلوم د هغوئ مشر وو. ۱۸ د دې نه مخکښې د هغو ډلو کسان د نمرخاتۀ
طرف د بادشاه د دروازې سره ولاړ وُو. هغوئ به د ليويانو د خېمو په دروازو باندې
څوکيداری کوله. ۱۹ د قورې زوئ او د ابی‌آسف نمسے سلوم، سره د خپلو خلقو چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د قورح پله وه د مالِک خُدائ د حضور د خيمې د ننوتلو ځائ حِفاظت ذمه وار وُو، لکه
څنګه چې مخکښې د هغوئ پلار نيکۀ د مالِک خُدائ د اوسېدو د ځائ د حِفاظت ذمه
وار وُو. ۲۰ د اِلىعزر زوئ فينحاس، په يو وخت کښې د هغوئ مشرى کړې وه او
مالِک خُدائ د هغۀ مل وو. ۲۱ د مسلمياه زوئ زکرياه هم د مالِک خُدائ د حضور د
خيمې د ننوتلو د ځائ څوکيدار وو. ۲۲ ټول دوه سوه او دولس سړى د دروازو دپاره
څوکيداران خوښ کړے شوى وُو. د هغوئ نومونه د هغه کلو په مطابق ليکلے شوى وُو
چې چرته هغوئ اوسېدل. داؤد او سموئيل پېغمبر د هغوئ پلار نيکۀ په دې اهم کار باندې
مقرر کړى وُو. ۲۳ هغوئ او د هغوئ اولاد د مالِک خُدائ د خيمې د دروازو د حِفاظت
ذمه وار وُو. ۲۴ په هر طرف باندې يوه يوه دروازه وه، شمالى، جنوبى، نمرخاتۀ او
نمرپرېواتۀ ته او د هرې يوې دروازې يو يو مشر څوکيدار وو. ۲۵ د هغوئ هغه خپلوان
کوم چې په کلو کښې اوسېدل نو هغوئ به وخت په وخت راتلل او د هغوئ سره به يې
اووۀ ورځې خِدمت کولو. ۲۶ هغه څلور مشران څوکيداران ليويان وُو چې هغوئ له
پوره ذمه وارى ورکړے شوې وه. هغوئ د مالِک خُدائ د کور د کوټو او د هغه قيمتى
سامان هم خيال ساتلو چې کوم هلته کېښودے شو. ۲۷ هغوئ د مالِک خُدائ کور سره
نزدې ديره وُو، ځکه چې د هغوئ کار د دې حِفاظت او په هر سحر کښې د دروازو
کولاول وُو.

## نور ليويان

۲۸ څۀ ليويان د عبادت د سامان ذمه وار وُو. چې کله به دا وړلے يا واپس راوړلے
شو نو هغوئ به دا شمېرلو. ۲۹ نور د مقدس ځائ د سامان، د اوړو، د ميو، د زيتُونو
تېلو، خوشبويئ او مصالحو ذمه وار وُو. ۳۰ خو د مصالحو د ګډولو ذمه وارى د
اِمامانو وه. ۳۱ د قورح د قبيلې د ليوى قبيلې د سلوم مشر زوئ چې نوم يې متتياه وو،
هغه د هغه روټئ پخولو ذمه وار وو چې په نذرانو کښې استعمالېدله. ۳۲ د قُهات د قبيلې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څهٔ کسان د هر سبت په ورځ د مالِک خُدائ کور دپاره د مقدسې روټئ تیارولو ذمه وار
وُو. ۳۳ د لیویانو څهٔ خاندان د مالِک خُدائ د کور د سندرو ذمه وارې وې. د دې
کورَنو مشران د مالِک خُدائ د کور په یو څو کوټو کښې اوسېدل او د نورو کارونو کولو
نه آزاد وُو، ځکه چې هغوئ به شپه او ورځ کار کولو. ۳۴ دا ټول کسان د هغوئ د پلار
نیکهٔ د نسب‌نامې په مطابق د لیویانو د خاندان مشران وُو. هغوئ د یروشلم د اوسېدونکو
خلقو مشران وُو.

## د ساؤل بادشاه پلار نیکهٔ او اولاد

۳۵ یعی‌ایل د جبعون ښار جوړ کړو او هلته دېره شو. د هغهٔ د ښځې نوم معکه وو. ۳۶
د هغهٔ مشر زوئ عبدون وو او د هغهٔ نور زامن دا وُو: صور، قیس، بعل، نیر، ندب، ۳۷
جدور، اخیو، زکریاه او مِقلوت ۳۸ چې د سِمعام پلار وو. د هغوئ اولاد د خپلې قبیلې
د نورو کورَنو سره نزدې په یروشلم کښې اوسېدل. ۳۹ نیر د قیس پلار وو او قیس د
ساؤل پلار وو. د ساؤل څلور زامن وُو: یونتن، مُلکی‌شوَع، ابینداب او اشبعل. ۴۰ یونتن
د مریب بعل پلار وو، چې هغه د میکاه پلار وو. ۴۱ د میکاه څلور زامن وُو: فیتون،
مُلک، تاریع او احاز. ۴۲ احاز د یعراه پلار وو، چې هغه د دریو زامنو پلار وو: علمت،
عزماوت او زِمری. زِمری د موضا پلار وو، ۴۳ موضا د بِنعه پلار وو، بِنعه د رفایاه،
رفایاه د اِلعاسه او اِلعاسه د اصیل پلار وو. ۴۴ د اصیل شپږ زامن وُو: عزریقام،
بوکرو، اِسمٰعیل، سعریاه، عبدیاه او حنان.

## د ساؤل مرګ

۱۰ ۱ فلستیانو د بنی اِسرائیلو خِلاف د جِلبوعه په غر باندې یو جنګ وکړو. هلته
ډېر بنی اِسرائیلیان ووژلے شول او د هغوئ نور پاتې کسان سره د ساؤل بادشاه او د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ د زامنو وتښتېدل. ٢ خو فلستيان ساؤل او د هغهٔ زامنو ته ورنزدې شول او د
ساؤل درې زامن يونتن، ابيناداب او مُلکىشوَع يې ووژل. ٣ د ساؤل نه ګېرچاپېره
سخت جنګ وو او هغه په کښې د دشمن په غشو باندې ولګېدو او سخت زخمى شو.
٤ نو هغه زلمى ته يې ووئيل چې کوم د هغهٔ وسله وړله، ”خپله تُوره راوباسه او ما پرې
ووهه، ګنې هغه ناسنته کسان به راشى او زما بې‌عزتى به کوى.“ خو زلمے يرېدو او
داسې يې نهٔ کول، نو ساؤل خپله تُوره واخسته او په هغې باندې يې ځان وروغورزولو.
٥ کله چې هغه زلمى وليدل چې ساؤل مړ شو، نو هغهٔ هم خپل ځان په خپله تُوره
وروغورزولو او مړ شو. ٦ نو ساؤل او د هغهٔ درې واړه زامن په يو ځائ مړهٔ شول او
د هغهٔ د اولاد هيچا هم بادشاهى ونهٔ کړه. ٧ چې د يزرعيل په وادۍ کښې چې کوم بنى
اِسرائيليان وُو نو چې هغوئ خبر شول چې لښکر تښتېدلے دے او ساؤل او د هغهٔ زامن
مړهٔ شوى دى، نو هغوئ خپل ښارونه پرېښودل او منډه يې کړه. او بيا فلستيان راغلل او
ښارونه يې قبضه کړل. ٨ په وروستو ورځ، فلستيان د مړو لوټ کولو له لاړل او هغوئ
د ساؤل او د هغهٔ د زامنو لاشونه وموندل چې د جِلبوعه په غرهٔ باندې پراتهٔ وُو. ٩
هغوئ د ساؤل سر پرې کړو، د هغهٔ نه يې زغره کولاو کړه او د هغوئ سره يې ټولو
فلستيانو ته پيغام وړُونکى وليږل چې خپلو معبودانو او خپلو خلقو ته دا زيرے واوروى.
١٠ هغوئ د هغهٔ وسله په خپله يوه عبادتخانه کښې کېښوده او د هغهٔ سر يې د خپل
خُدائ دجون په عبادتخانه کښې راځوړند کړو. ١١ کله چې د يبيس خلقو په جِلعاد
کښې دا واورېدل چې فلستيانو د ساؤل سره څهٔ کړى وُو، ١٢ نو د هغوئ ټول تکړه
سړى لاړل او د ساؤل او د هغهٔ د زامنو لاشونه يې واخستل او يبيس ته يې يوړل. هلته
هغوئ دا د څېړۍ د ونې لاندې ښخ کړل او اووهٔ ورځې يې روژه ونيوله. ١٣ ساؤل ځکه
مړ شو چې د مالِک خُدائ سره يې خيانت وکړو او د مالِک خُدائ د حُکمونو نافرمانى
يې وکړه. هغهٔ د کوډګرې ښځې په ذريعه د مړو د روحونو سره مشورې هم کولې. ١٤
په کار خو دا وُو چې د مالِک خُدائ نه يې مشوره اخستې وے. نو مالِک خُدائ هغه
ووژلو او د بادشاهۍ اختيار يې د يَسى زوئ داؤد له ورکړو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد بادشاه جوړېدل

١١ ١ بیا ټول بنی اِسرائیلیان په حبرون کښې داؤد له لاړل او ورته يې ووئیل، ”مونږ
ستا خپله وینه یُو. ٢ په تېره زمانه کښې، کله چې لا ساؤل زمونږ بادشاه وو، نو تهٔ هغه
څوک وې چې په جنګ کښې دې د بنی اِسرائیلو مشری کوله او مالِک خُدائ ستا خُدائ
پاک تا سره دا لوظ وکړو چې تهٔ به د هغهٔ د خلقو بنی اِسرائیلو حکمران یې.“ ٣ نو د
بنی اِسرائیلو ټول مشران په حبرون کښې داؤد له راغلل. هغهٔ د مالِک خُدائ په مخکښې
د هغوئ سره یو لوظ وکړو. هغوئ د مقررولو دپاره په هغهٔ باندې تېل واچول او هغه د
بنی اِسرائیلو بادشاه شو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ د سموئیل په ذریعه وعده
کړې وه.

## د حضرت داؤد یروشلم فتح کول

٤ داؤد بادشاه او ټول بنی اِسرائیلیان لاړل او د یروشلم په ښار يې حمله وکړه. په هغه
وخت کښې یروشلم د یبوس په نوم یادېدو او د هغهٔ مُلک اصلی اوسېدونکی یعنې
یبوسیان تر هغه وخته پورې هلته اوسېدل. ٥ یبوسیانو داؤد ته ووئیل، ”تهٔ به هیڅکله
ښار ته ورننه نهٔ وځې.“ خو داؤد د هغوئ د صیون قلعه ونیوله او دا ځائ د داؤد په ښار
مشهور شو. ٦ داؤد وفرمائیل، ”کوم یو سړے چې اول په یبوسیانو حمله وکړی نو
هغه به د لښکر مشر وی.“ یوآب چې د هغهٔ مور ضرویاه وه، هغهٔ اول حمله وکړه او هغه
د لښکر مشر شو. ٧ داؤد په قلعه کښې د اوسېدو دپاره لاړو نو په دې وجه دا د داؤد
ښار بللے شی. ٨ هغهٔ ښار جوړ کړو، د هغه ځائ نه يې شروع وکړه چرته چې بره
ختلی پټی وُو او د ګېرچاپېره علاقې پورې يې خور کړو او یوآب باقی ښار بیا جوړ کړو.
٩ داؤد نور هم تکړه کېدو، ځکه چې ربُ الافواج د هغهٔ مل وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد تکړه فوجيان

١٠ د داؤد د تکړه فوجيانو مشران دا دی. ټولو بنی اِسرائيلو په شريکه دا فېصله وکړه
چې داؤد خپل بادشاه جوړ کړی لکه څنګه چې مالِک خُدائ وعده کړې وه. ١١
وړومبے د حکمون د قبيلې يسوبعام وو چې د هغه ”درېو آفسرانو“ مشر وو. هغۀ د خپلې
نېزې سره د درې سوو سړو خِلاف جنګ وکړو او هغه ټول يې په يو جنګ کښې ووژل.
١٢ وريسې د هغه درېو مشهورو کسانو نه د دودو زوئ اِليعزر، چې د اخوحی د قبيلې
وو. ١٣ هغه د داؤد په ملګرتيا کښې د فسدميم په جنګ کښې د فلستيانو خِلاف
وجنګېدو. کله چې بنی اِسرائيلو د فلستيانو نه تښتېدل شروع کړل نو هغه د اوربشو په يو
پټی کښې وو، ١٤ خو بيا هغه او د هغۀ سړی د پټی په مينځ کښې کلک ودرېدل او
فلستيانو له يې شکست ورکړو. مالِک خُدائ هغۀ له يوه لويه فتح ورکړه. ١٥ يوه ورځ د
مشرانو فوجيانو د دېرشو نه درې کسان يو ګټ له لاړل چرته چې داؤد د عدولام غار
سره نزدې ايسار وو، چې په دې دوران کښې د فلستيانو يوې فوجی قبيلې د رفائيم په
وادئ کښې خيمې لګولې وې. ١٦ په هغه وخت کښې داؤد په يوه پخه مورچه کښې وو
او د فلستيانو يوې قبيلې بيت‌لحم قبضه کړے وو. ١٧ د داؤد اوبو ته سخت زړۀ وشو
او وې فرمائيل، ”کاش چې څوک ما له د بيت‌لحم دروازې سره نزدې کوهی نه لږې اوبۀ
راوړی.“ ١٨ نو هغه درېو مشهورو فوجيانو د فلستيانو په فوجی صفونو کښې لار جوړه
کړه، د کوهی نه يې لږې اوبۀ راوويستلې او داؤد له يې راوړې. خو هغۀ دا ونۀ څښلے او
د څښلو په ځائ يې مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه توئ کړې ١٩ او وې فرمائيل، ”دا
زۀ هيڅکله نۀ شم څښلے. دا به د دې سړو د وينې څښلو په شان وی چا چې خپل ژوند
په خطره کښې واچولو.“ نو هغۀ د دې څښلو نه اِنکار وکړو. دا د هغه درېو تکړه فوجيانو
د بهادری کارنامې وې. ٢٠ د يوآب ورور ابيشے د هغه درېو مشهورو کسانو مشر وو.
هغۀ د خپلې نېزې سره د درې سوو سړو خِلاف جنګ وکړو او هغوئ يې ووژل او د هغه
درېو په شان مشهور شو. ٢١ هغه د هغه درېو نه زيات مشهور وو او د هغوئ مشر شو،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغه په هغه درېو کښې شامل نۀ وو. ٢٢ د قبضئيل د يهويدع زوئ بناياه يو تکړه
فوجي وو، هغۀ ډېرې د بهادرئ کارنامې وکړې، چې په دې کښې د دوو تکړه موآبيانو
جنګيالو وژل هم شامل وُو. يو بل ځل چې واوره ورېدله نو هغه لاندې يوې کندې ته لاړو
او يو زمرے يې ووژلو. ٢٣ هغۀ يو مِصرے هم ووژلو، يو لوئ سړے چې تقريباً دوه نيم
ګزه لوړ وو، د هغۀ نېزه د کوټې د تير هومره لويه وه. بناياه په هغۀ باندې د امسا سره
حمله وکړه، د مِصرى د لاس نه يې نېزه واخستله او په هغې باندې يې ووژلو. ٢٤ دا د
بناياه د بهادرئ کارنامې وې چې هغه د هغه درېو په شان مشهور وو. ٢٥ هغه د هغه
دېرشو نه زيات مشهور وو، خو په هغه درېو کښې شامل نۀ وو. داؤد هغه د خپلو ذاتى
محافظانو مشر جوړ کړو. ٢٦-٤٧ دا هغه نور بهادر فوجيان دى: د يوآب ورور
عساهيل، د بيت‌لحم د دودو زوئ اِلحنان، د حرود سموت، د فلون خلص، د تقوع د
عقيس زوئ عيرا، د عنتوت ابيعزر، د حوساتى سِبکى، د اخوحى عيلى، د نطوفاتى
مهرى، د نطوفاتى د بعنه زوئ حلد، په بنيامين کښې د جبعه د ريبى زوئ اِتى، د فِرعاتون
بناياه، د جعس سره نزدې واديانو نه حُورى، د عرباه ابى‌ايل، د بحروم عزماوت، د
سعلبون اليخبه، د جزون هشيم، د حرار نه د شجى زوئ يونتن، د حرار نه د ساکار زوئ
اخى‌آم، د اُور زوئ الفال، د مکيره زوئ حِفر، د فلون اخياه، د کرمل حصرو، د ازبى
زوئ نعرى، د ناتن ورور يوايل، د هاجرى زوئ مِبحار، د عمون صِلق، د بيروت د يوآب
زغره وړونکے نحرى، د يتير نه عيرا او جريب، حِتى اورِياه، د اخلى زوئ زاباد، د سيزا
زوئ عدينه چې د روبين قبيلې يو مشر کس وو، چې د دېرشو فوجيانو يوه خپله ډله يې
لرله، د معکه زوئ حنان، د مِتن يوسفط، د عستارات عُزياه، د عروعير د خوتام زامن،
سما او يعى‌ايل، د تيص نه د سِمرى زامن، يديعيل او يوخا، د محاوه نه اِلى‌ايل، د النعم
زامن، يريبى او يوساوياه، د موآب نه يتمه، اِلى‌ايل، عوبيد او د ضوباه نه يعسى‌ايل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنیامین د قبیلې نه د حضرت داؤد ورومبنی ملګری

١٢ ١ دا هغه سړی دی چې په صِقلاج کښې د داؤد سره په هغه وخت ملګری شول
چې هغه د قیس زوئ ساؤل نه پټېدو. هغوئ د هغه جنګیالو نه وُو چا چې د داؤد په حق
کښې جنګ وکړو. ٢ دا ټول تکړه لینده چلوونکی وُو، هغوئ په ښی او ګس لاس
دواړو باندې غشی او د لیندې کانړی ویشتلے شول. هغوئ د بنیامین د قبیلې نه د ساؤل
خپلوان وُو. ٣-٧ هغوئ د جبعه ښار نه د سماعه د زامنو د لوئ مشر اخیعزر او
دویم مشر یوآس د مشرۍ لاندې وُو. هغه فوجیان دا وُو: یزئیل او فِلِط چې د عزماوت
زامن وُو، براکه او د عنتوت نه یاهُو، د جبعون اِسماعیه چې مشهور فوجی او د هغه
دېرشو نه یو مشر وو، یرمیاه، یحزی‌ایل، یوحانان او د جدیره یوزبد، العوزی، یریموت،
بعلیاه، سمریاه، سفطیاه خروفی، القنه، یسیاه، عزراېل، یوعزر او د قورح د قبیلې
یسوبعام، د جدور د یروحام زامن، یوعیله او زبدیاه.

## د جاد قبیلې نه د داؤد ملګری

٨ کله چې داؤد د صحرا په قلعه کښې وو نو د جاد د قبیلې نه ځینې تکړه او تجربه‌کار
فوجیان د هغهٔ سره ملګری شولو. هغوئ په ډالونو او نېزو کښې ماهِران وُو، د زمرو په
شان تکړه او په غرونو کښې د هوسۍ په شان تېزې منډې یې وهلې. ٩-١٣ د هغوئ
عُهدې په دې ترتیب باندې وې: د ټولو مشر ایصر، وریسې عبدیاه، اِلیاب، مسمنه،
یرمیاه، عتی، اِلی‌ایل، یوحانان، الزباد، یرمیاه او مکبنی. ١٤ د جاد قبیلې جنګیالی فوجی
مشران وُو. د هغوئ د ټولو نه کمزورو جنګیالو د سلو فوجیانو سره جنګ کولے شو او
تکړه جنګیالو د زرو خِلاف جنګ کولے شو. ١٥ د یو کال په ورومبۍ میاشت کښې، په
هغه وخت کښې چې د اُردن په سیند کښې اوبهٔ د غاړو نه اوړېدلې، نو هغوئ د سیند نه
پورې وتل، هغه خلق یې خوارهٔ وارهٔ کړل کوم چې د سیند نمرخاتهٔ او نمرپرېواتهٔ دواړو
طرفونو ته په وادۍ کښې اوسېدل.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنیامین او د یهوداه د قبیلې ملګری

۱۶ یو ځل د بنیامین او یهوداه د قبیلو د سړو یوه ډله هغه قلعې ته لاړه چرته چې داؤد
وو. ۱۷ داؤد مِلاوېدو له ورَغلو او ورته یې وفرمائیل، ”کۀ تاسو د دوستانو په شان دلته
زما مدد له راغلی یئ، نو په خیر راغلئ. زمونږ سره ملګری شئ. خو کۀ ستاسو اراده دا
وی چې دوکه مې کړئ او دشمن ته مې حواله کړئ، اګر چې ما تاسو له د تکلیف رسولو
کوشش هم نۀ دے کړے، نو زمونږ د پلار نیکۀ خُدائ پاک به د دې نه خبر شی او تاسو
له به سزا درکړی.“ ۱۸ د خُدائ پاک روح د هغوئ په یو کس عماسی باندې راغلو، چې
هغه وروستو د هغه دېرشو مشر شو او هغۀ چغه ووهله، ”د یَسی زوئ داؤده، مونږ ستا
یُو. کامیابی دې ستا او د هغوئ وی چې ځوک ستا مدد کوی. ځکه چې خُدائ پاک ستا
مل دے.“ داؤد هغوئ ته په خیر راغلے ووئیلو او په خپل لښکر یې آفسران جوړ کړل.

## د منسی ملګری

۱۹ د منسی قبیلې څۀ فوجیان واوړېدل او د داؤد په طرف شول، دا په هغه وخت کښې
چې کله هغه د فلستیانو سره د ساؤل بادشاه خِلاف جنګ له روان وو. په آخر کښې
هغوئ د فلستیانو مدد نۀ شو کولے، ځکه چې د هغوئ بادشاهان د دې نه یرېدل چې
داؤد به د هغوئ نه خپل پخوانی نیک ساؤل ته واوړی، نو هغه یې واپس صِقلاج ته
ولېږلو. ۲۰ دا د منسی هغه فوجیان دی چې کله داؤد واپس صِقلاج له راتلو نو هغوئ د
هغۀ په طرف شول: عدنه، یوزبد، یدیعیل، میکائیل، یوزبد، الیهُو او ضلتی. په منسی کښې
د هغوئ هر یو د زرو زرو سړو فوجی قبیلې وې. ۲۱ هغوئ د هغه ډلو خِلاف د داؤد
ملګرتیا وکړه چې ځوک ډاکوان وُو، ځکه چې هغوئ ټول تکړه جنګیالی وُو او د هغۀ د
لښکر مشران وُو. ۲۲ تقریباً هره ورځ به نوی سړی د داؤد سره شاملېدل، تر دې پورې
چې د هغۀ لښکر د خُدائ پاک د لښکر په شان لوئ شو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد د لښکرو شمېر

۲۳-۳۷ کله چې داؤد په حبرون کښې وو، نو هر تکړه فوجيان د هغۀ په لښکر کښې
ملګرى شول د دې دپاره چې د ساؤل په ځائ يې بادشاه جوړ کړى، لکه څنګه چې
مالِک خُدائ وعده کړې وه. د هغوئ شمېر داسې وو: يهوداه: شپږ زره او اتۀ سوه ښۀ
وسله بند سړى، چې ډالونه او نېزې ورسره وې، شمعون: اووۀ زره او سل ښۀ تکړه
سړى، ليوى: څلور زره او شپږ سوه سړى، د هارون اولاد، د يهويدع ډله: درې زره او
اووۀ سوه سړى، په دې کښې يو بهادر جنګيالے زلمے صدوق هم شامل وو، سره د هغۀ
د دوويشتو خپلوانو چې ټول آفسران وُو، بنيامين چې د ساؤل خپله قبيله وه: درې زره
سړى (د بنيامين زيات خلق د ساؤل وفادار پاتې شوى وُو)، اِفرائيم: شل زره او اتۀ سوه
تکړه سړى چې په خپلو ډلو کښې مشهور وُو، نمر پرېواتۀ طرف ته منسى: اتلس زره
سړى چې د داؤد د بادشاه جوړولو دپاره خوښ کړے شول، يساکار: دوه سوه سړى،
سره د هغه سړو چې د هغوئ د مشرى لاندې وُو (دا مشران په حالاتو او واقعاتو باندې
پوهېدل او هغوئ ته پته وه چې بنى اِسرائيلو له څۀ کول په کار دى)، زبولون: پنځوس
زره وفادار او داسې اعتبارى سړى چې د جنګ دپاره تيار وُو، چې د هر قِسم وسلې په
استعمالېدو باندې پوهېدل، نفتالى: يو زر مشران، سره د اوو دېرشو زرو سړو چې په
ډالونو او نېزو باندې وسله بند وُو، دان: اتۀويشت زره او شپږ سوه تکړه سړى، آشر:
څلوېښت زره سړى چې د جنګ دپاره تيار وُو، د اُردن سيند نمرخاتۀ طرف ته قبيلې،
روبين، جاد او نمرخاتۀ طرف ته منسى: يو سل او شل زره سړى چې د هر قِسم وسلې په
استعمالېدو باندې پوهېدل. ۳۸ دا ټول فوجيان چې د جنګ دپاره تيار وُو، حبرون ته
لاړل. د هغوئ اراده دا وه چې داؤد په ټولو بنى اِسرائيلو بادشاه جوړ کړى. نو د ټولو بنى
اِسرائيلو په دې خبره باندې اتفاق وو. ۳۹ هغوئ هلته د داؤد سره درې ورځې تېرې
کړې، د هغه مېلمستيا نه يې خوړل څښل کول چې د هغوئ خپلوانو ورله تيار کړے وو.
۴۰ د شمالى قبيلو د يساکار، زبولون او نفتالى پورې خلق د خرونو، اوښانو، قچرو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غوَیو سره راتلل چې په خوراک، اوړو، اینځرو، کشمشو، میو او د زیتُونو تېلو باندې بار
وُو. هغوئ ځاروی او ګډې هم راوستل چې حلالې يې کړی او وې خوری. دا هر څۀ د
هغه خوشحالئ اظهار وو چې په ټول مُلک کښې محسوسېدله.

## د لوظ صندوق د قِريَت‌یعریم نه وړل کېدل

۱۳ ۱ داؤد بادشاه د هغه ټولو آفسرانو سره مشوره وکړه چې زرو سړو د ډلو او د
سلو سړو د ډلو مشران وُو. ۲ بيا هغۀ ټولو بنی اِسرائيلو ته اِعلان وکړو چې، "کۀ تاسو
ته منظوره وی او کۀ دا د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک رضا وی، نو راځئ چې
زمونږ باقی خلقو له او د هغوئ په ښارونو کښې اِمامانو او ليويانو له پېغام وړُونکی
وليږُو او هغوئ ته ووايو چې دلته مونږ سره راغونډ شی. ۳ نو بيا به مونږ لاړ شُو او د
خُدائ پاک د لوظ صندوق به راوړُو، چې د ساؤل بادشاه په وخت کښې ورته توجو نۀ
وه شوې." ۴ ټول خلق دې ته راضی شول، ځکه چې خلقو ته پته ولګېده چې دا خبره
صحيح ده. ۵ نو داؤد د ټول مُلک نه بنی اِسرائيليان راغونډ کړل، په جنوب کښې د
مِصر د سرحد نه واخله په شمال کښې د حمات درې پورې، د دې دپاره چې د لوظ
صندوق د قِريَت‌يعريم نه يروشلم ته راوړی. ۶ داؤد او نور ټول بنی اِسرائيليان د بعله
يعنې قِريَت‌يعريم ښار ته لاړل چې د يهوداه په علاقه کښې دے، د دې دپاره چې د خُدائ
پاک د لوظ صندوق راوړی، هغه صندوق چې د مالِک خُدائ په نوم ياديږی چې هغه د
وزرو والا مخلوق په مينځ کښې په تخت باندې دے. ۷ د ابيناداب د کور نه هغوئ د
لوظ صندوق راوويستلو او په يوه نوې ګاډۍ باندې يې کېښودو. عُزه او اخيو د ګاډۍ
لاربښودنه کوله، ۸ په دې دوران کښې داؤد او ټول خلق د خپل ټول طاقت سره د
خُدائ پاک د درناوی دپاره ګډېدل. سندرې يې وئيلې او ربابُونه، تمبلونه، چمټې او بيګلې
يې غږولې. ۹ کله چې هغوئ د کيدون درمند ته راغلل، نو غوَيانو تيندک وخوړو، عُزه
خپل لاس وراوږد کړو او د لوظ صندوق يې رايسار کړو. ۱۰ نو مالِک خُدائ سمدستی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عُزه ته غصه شو او صندوق له د لاس د وړلو په وجه يې ووژلو. هغه هلته د خُدائ پاک
په حضور کښې مړ شو، ۱۱ داؤد په قهر وو ځکه چې مالِک خُدائ عُزه له په غصه
کښې سزا ورکړې وه. نو هغه ځائ تر اوسه پورې فارص‌عُزه بللے شی. ۱۲ بيا داؤد د
خُدائ پاک نه ويرېدو او وې فرمائيل، ”زۀ اوس د لوظ صندوق څنګه د ځان سره
يوسم؟“ ۱۳ نو داؤد دا د ځان سره په يروشلم کښې د داؤد ښار ته يو نۀ وړو. د هغې په
ځائ دا يې د يو سړی په کور کښې پرېښودو چې نوم يې عوبيد ادوم وو، چې د جات
ښار نه وو. ۱۴ دا هلته درې مياشتې پاتې شو او مالِک خُدائ د عوبيد ادوم خاندان او
هغه هر څۀ له برکت ورکړو چې د هغۀ وُو.

## په يروشلم کښې د حضرت داؤد کارنامې

۱۴ ۱ د صور بادشاه حيرام داؤد له پيغام ورُونکی ولېږل، هغۀ ورله د دِيار د لرګو
سره د کاڼو، ګِلکارانو او ترکاڼانو بندوبست وکړو چې يو محل جوړ کړی. ۲ نو داؤد
ته پته ولګېده چې مالِک خُدائ هغه د بنی اِسرائيلو بادشاه جوړ کړے دے او د خپلو
خلقو په خاطر يې د هغۀ بادشاهئ له برکت ورکړے دے. ۳ هلته په يروشلم کښې داؤد
نورې ښځې وادۀ کړې او نور زامن او لوڼه يې پيدا شوې. ۴ د هغۀ دا بچی په يروشلم
کښې پيدا شوی وُو: سموع، سوباب، ناتن، سليمان، ۵ اِبحار، اليسوع، الفالط، ۶
نجه، نفج، يفيع، ۷ اليسمع، بعليدع او اليفلط.

## په فلستيانو باندې فتح

۸ کله چې فلستيان خبر شول چې هغه د بنی اِسرائيل په ټول مُلک باندې بادشاه جوړ
شوے دے، نو د هغوئ ټول لښکر د هغۀ د نيولو دپاره لاړو. او داؤد د هغوئ سره جنګ
له روان شو. ۹ فلستيان د رفائيم وادۍ ته رسېدلی وُو او لوټ مار يې شروع کړو. ۱۰

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

داؤد د خُدائ پاک نه تپوس وکړو، ”ما له په فلستيانو باندې حمله کول په کار دی څۀ؟ تۀ
به ما له فتح راکړې؟“ مالِک خُدائ جواب ورکړو، ”آو، حمله پرې وکړه. زۀ به تا له فتح
درکړم.“ ۱۱ نو داؤد په بعل‌پراضيم کښې په هغوئ باندې حمله وکړه او شکست يې
ورکړو. هغۀ وفرمائيل، ”خُدائ پاک زۀ د سېلاب په شان استعمال کړے يم چې د دشمن
لښکر په مخه يوسم.“ نو په دې وجه د هغه ځائ نوم بعل‌پراضيم دے. ۱۲ کله چې
فلستيان تښتېدل، نو هغوئ خپل بُتان د ځان نه وروستو پرېښودل او داؤد حُکم وکړو
چې دا دې وسوزولے شی. ۱۳ خو لږ وخت پس فلستيان وادئ ته راواپس شول او
لوټ مار يې شروع کړو. ۱۴ داؤد يو ځل بيا د خُدائ پاک سره مشوره وکړه او خُدائ
پاک جواب ورکړو، ”په هغوئ باندې د دې ځائ نه حمله مۀ کوه، خو ورله راتاو شه او
د بل طرف نه ورباندې د حملې کولو تيارے وکړه، چرته چې د تُوت ونې دی. ۱۵ کله
چې د ونو په سرونو د تګ آواز واورې، نو بيا حمله وکړه، زۀ به ستاسو نه مخکښې د
دې دپاره روان يم چې د فلستيانو لښکر له شکست ورکړم.“ ۱۶ نو داؤد هم هغه شان
وکړل چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو او هغه د جبعون نه تر جزر پورې په
فلستيانو پسې وو. ۱۷ د داؤد شُهرت په هر ځائ کښې خور شو او مالِک خُدائ ټول
قومونه د هغۀ نه يرول.

## د لوظ صندوق د وړلو تيارے کول

۱۵ ۱ داؤد د ځان دپاره د داؤد په ښار کښې کورونه جوړ کړل. هغۀ د خُدائ پاک
د لوظ صندوق دپاره هم يو ځائ تيار کړو او د دې دپاره يې يوه خېمه ودروله. ۲ بيا
هغۀ وفرمائيل، ”صِرف ليويان به د لوظ صندوق وړی، ځکه چې هغوئ هغه خوک دی
چې مالِک خُدائ د دې د وړلو دپاره خوښ کړی دی او چې د هميشه دپاره د هغۀ
خِدمت کوی.“ ۳ نو داؤد ټول بنی اِسرائيليان د دې دپاره راغونډ کړل چې د لوظ
صندوق هغه ځائ ته راوړی چې کوم يې ورله تيار کړے وو. ۴ نو بيا هغۀ د هارون

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اولاد او لیویانو راوغوښتلو. ۵ د قُهات د قبیلې اوریاېل خوښ کړے شو، چې د خپلې
قبیلې د یو سل او شلو کسانو مشر وو، ۶ د مراری قبیلې نه عسایاه، چې د خپلې قبیلې
د دوو سوو او شلو کسانو مشر وو، ۷ د جیرسون قبیلې نه یوایل، چې د خپلې قبیلې د
یو سل او دېرشو کسانو مشر وو، ۸ د الیصفن قبیلې نه سمعیاه، چې د دوو سوو
کسانو مشر وو، ۹ د حبرون قبیلې نه اِلیایل، چې د اتیاو کسانو مشر وو، ۱۰ د
عُزیاېل قبیلې نه عمینداب، چې د خپلې قبیلې د یو سل او دولسو کسانو مشر وو. ۱۱
داؤد صدوق او ابیاتار اِمامان او دا شپږ لیویان یې راوغوښتل: اوریاېل، عسایاه، یوایل،
سمعیاه، اِلیایل او عمینداب. ۱۲ هغهٔ ورته وفرمائیل، "تاسو د لیویانو قبیلې مشران یئ.
خپل ځانونه او خپل لیویان پاک کړئ، نو چې تاسو د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د
خُدائ پاک د لوظ صندوق هغه ځائ ته راوړئ چې ما ورله تیار کړے دے. ۱۳ په
وړومبی ځل تاسو دا رانهٔ وړو، نو ځکه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک مونږ له سزا
راکړې ده چې مونږ د هغهٔ نه دا تپوس نهٔ دے کړے چې څنګه یې یوسو." ۱۴ بیا
اِمامانو او لیویانو د دې دپاره خپل ځانونه پاک کړل چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو د
خُدائ پاک د لوظ صندوق یروشلم ته یوسی. ۱۵ لیویانو دا د بازوګانو په ذریعه په خپلو
ولو باندې یوړو، لکه څنګه چې موسیٰ د مالِک خُدائ د حُکم په مطابق حُکم کړے وو.
۱۶ داؤد د لیویانو مشرانو له حُکم ورکړو چې څهٔ لیویانو ته یې سندرې وئیل، او په
بینجو، رباب او په چمټو باندې خوندوره موسیقی غږول حواله کړی. ۱۷-۲۱ د
سندرغاړو د ډلو نه هغوئ دا سړی خوښ کړل چې د زیړو چمټې وغږوی: د یوایل زوئ
هیمان، د هغهٔ خپلوان، د برکیاه زوئ آسف او د مراری قبیلې د قوسایاه زوئ ایتان. د
هغوئ د مدد او غږولو دپاره یې دا لیویان خوښ کړل چې د دروند آواز والا بینجو
وغږوی: زکریاه، عُزیایل، سمیراموت، یحیایل، عُنی، اِلیاب، معسیاه او بنایاه. د سپک
آواز والا بینجو غږولو دپاره هغوئ دا لیویان خوښ کړل: متتیاه، الفلهُو، مِقنیاه، عزریاه
او د عبادتخانې څوکیداران، عوبید ادوم او یعیایل. ۲۲ په موسیقۍ کښې د مهارت په
وجه کنعنیاه د دې دپاره خوښ کړے شوے وو چې د لیوی موسیقارانو مشر شی. ۲۳-

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٤ برکياه او القنه سره د عوبيد ادوم او يحياه، د لوظ صندوق څوکيداران خوښ کړے
شوی وُو. دا اِمامان د تلو په وخت د لوظ صندوق په مخکښې د بيګلو غږولو دپاره
خوښ کړے شوی وُو: شبنياه، يوسفط، نتنی‌ايل، عماسی، زکرياه، بناياه او اِلی‌عزر.

## د لوظ صندوق يروشلم ته وړلے کيدل

٢٥ نو داؤد بادشاه، د بنی اِسرائيلو مشران او فوجی مشران د عوبيد ادوم کور ته لاړل
چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق راوچت کړی. او هغوئ يو لوئ جشن جوړ کړے وو.
٢٦ هغوئ اووهٔ غويی او اووهٔ ګډان حلال کړل، چې دا خبره يقينی شی چې مالِک
خُدائ به د هغه ليويانو سره مدد کوی چا چې د لوظ صندوق وړلو. ٢٧ داؤد د مهينې
لټې نه جوړه شوې چُوغه اغوستې وه او موسيقارانو، د هغوئ مشر کنعنياه او هغه
ليويانو هم د مهينې لټې چُوغې اغوستې وې چا چې صندوق وړلو. داؤد د لټې پيش بند
هم اغوستے وو. ٢٨ نو داسې ټول بنی اِسرائيليان د لوظ صندوق سره يروشلم ته روان
وُو. او د خوشحالۍ نه يې چغې وهلې، د بيګلو، ښکرو، چمټو او بينجو د موسيقۍ آوازونه
وُو. ٢٩ کله چې د لوظ صندوق ښار ته راوړلے شو، نو په دې وخت کښې د ساؤل لور
او د داؤد ښځې ميکل د کړکۍ نه بهر وکتل او وې ليدل چې داؤد بادشاه د خوشحالۍ نه
ټوپونه وهل، نو هغې ورته په زړهٔ کښې سپک وکتل.

# ١٦

١ هغوئ د لوظ صندوق هغه خېمې ته يوړو چې داؤد ورله تياره کړې وه او هغه
يې په خيمه کښې دننه کېښودو. بيا هغوئ خُدائ پاک ته سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ
نذرانې پيش کړې. ٢ کله چې داؤد سوزېدونکې نذرانې او د سلامتۍ نذرانې پيش کول
بس کړل، نو هغهٔ د مالِک خُدائ په نوم باندې خلقو له برکت ورکړو. ٣ بيا هغهٔ په ټول
بنی اِسرائيل کښې هر سړی او ښځې له يوه روټۍ، د غوښې يوه برخه او څهٔ کشمش
ورکړل. ٤ داؤد څهٔ ليويان مقرر کړل چې د لوظ صندوق مخامخ د مالِک خُدائ د بنی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اِسرائيلو د خُدائ پاک خِدمت وکړی او د هغهٔ ثناء صِفت وکړی. ۵ آسف د هغوئ
مشر وو او دا سړی د هغهٔ مددګاران مقرر شُو: زکرياه، يعی‌ايل، سميراموت، يحی‌ايل،
متتياه، اِلياب، بناياه، عوبيد ادوم او يعی‌ايل. هغوئ به بينجو غږولې. آسف چمټې غږولې،
۶ او دې دوو اِمامانو بناياه او يحزی‌ايل به د لوظ صندوق په وړاندې هره ورځ بيګلې
غږولې. ۷ هم په هغه ورځ داؤد آسف او د هغهٔ ليويانو له د مالِک خُدائ د ثناء صِفت
کولو ذمه واری ورکړه.

## د حضرت داؤد حمدوثناء

۸ د مالِک خُدائ شکريه ادا کړئ، د هغهٔ د لويئ اِعلان وکړئ، قومونو ته ووايئ چې
هغهٔ څهٔ کړی دی. ۹ د مالِک خُدائ حمدوثناء ووايئ، د هغه عجيبه کارونو په حقله
ووايئ چې هغهٔ کړی دی. ۱۰ په دې باندې خوشحالی وکړئ چې مونږ د هغهٔ يُو، چې
څوک د هغهٔ طلب کوی هغه ټول دې خوشحاله شی. ۱۱ د مالِک خُدائ او د هغهٔ د
طاقت لټون کوئ او هر وخت د هغهٔ په حضور کښې اوسئ. ۱۲-۱۳ د خُدائ پاک د
خِدمت کوونکی يعقوب اولاده، د هغه بنی اِسرائيل اولاده، چې کوم خُدائ پاک خوښ
کړے وو، هغه معجزې يادې ساتئ چې خُدائ پاک کړی دی او هغه عدالت چې کوم هغهٔ
کړے دے. ۱۴ هغه مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک دے، د هغهٔ حُکمونه د ټولې دُنيا
دپاره دی. ۱۵ د خُدائ پاک لوظ هيڅکله مهٔ هېروئ، چې کوم د پېړو پېړو پورې نهٔ
ختمېدونکے لوظ دے، ۱۶ کوم لوظ چې هغهٔ د اِبراهيم سره کړے وو، هغه وعده چې
هغهٔ د اِسحاق سره کړې وه. ۱۷ مالِک خُدائ د يعقوب سره يو لوظ وکړو، هغه لوظ
چې نهٔ ختمېدونکے دے. ۱۸ هغهٔ وفرمائيل، ”زهٔ به تاسو له د کنعان مُلک درکړم، دا به
ستاسو خپل ميراث شی.“ ۱۹ د خُدائ پاک خلق په شمېر کښې کم وُو، چې د کنعان په
مُلک کښې مسافر وُو. ۲۰ هغوئ د يو مُلک نه بل مُلک ته سرګردانه ګرځېدل، د يوې
بادشاهۍ نه بلې بادشاهۍ ته تلل راتلل. ۲۱ خو خُدائ پاک هيڅ څوک پرې نهٔ ښودل چې
د هغوئ سره بد سلوک وکړی، د هغوئ د حِفاظت دپاره هغهٔ بادشاهانو له خبردارے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړو، ۲۲ ”زما خوښ کړے شوو خِدمت كوونكو ته ضرر مۀ رسوئ، زما پېغمبرانو
ته تکليف مۀ رسوئ.“ ۲۳ اے ټولې دُنيا، د مالِک خُدائ صِفت وکړئ، د هغه زېرى
اِعلان هره ورځ کوئ چې هغه بچ کول کوى. ۲۴ قومونو ته د هغۀ د جلال اِعلان وکړئ،
ټولو خلقو ته د هغۀ د عجيبه کارنامو بيان وکړئ. ۲۵ مالِک خُدائ لوئ دے او د هغۀ
دې لوئى او ثناء صِفت وشى، د نورو ټولو خُدايانو نه دې د هغۀ زيات درناوے وشى.
۲۶ د نورو ټولو قومونو خُدايان تش بُتان دى، خو مالِک خُدائ آسمانونه پېدا کړى دى.
۲۷ د هغۀ نه ګېرچاپېره جلال او عزت دے، د هغۀ عبادتخانه د طاقت او د خوشحالۍ نه
ډکه ده. ۲۸ د زمکې ټولو قومونو، د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړئ، د هغۀ د جلال او د
طاقت ثناء صِفت وکړئ. ۲۹ د مالِک خُدائ د ستائنې وړ نوم لوئى بيان کړئ، نذرانه
راوړئ او د هغۀ حضور ته راشئ. کله چې هغه مقدسه هستى ځرګندېږى نو د هغۀ په
وړاندې سجده وکړئ، ۳۰ اے ټولې دُنيا، د هغۀ په مخکښې ورېږدېږئ. زمکه پخه
لګولے شوې ده او نۀ شى خوځېدلے. ۳۱ اے آسمانه او اے زمکې، خوشحالى وکړئ،
قومونو ته ووايئ چې مالِک خُدائ بادشاه دے. ۳۲ سمندر او په هغې کښې مخلوق دې
وغرمبېږى، پټى او په دې کښې هر څۀ دې خوشحالى وکړى. ۳۳ د ځنګل ونې به د
خوشحالۍ نه چغې ووهى. هغه وخت چې مالِک خُدائ په زمکه بادشاهۍ له راځى. ۳۴ د
مالِک خُدائ شُکر ادا کړئ، ځکه چې هغه ښۀ دے، د هغۀ مينه نۀ ختمېدونکې ده. ۳۵
هغۀ ته ووايئ، ”اے زمونږ خلاصوونکيه خُدايه پاکه. مونږ بچ کړه، مونږ په يو ځائ
راغونډ کړه، د قومونو نه مو بچ کړه، نو چې داسې مونږ شُکر ګزار شُو او ستا د پاک
نوم ستائينه وکړُو. ۳۶ د مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ، د
هغۀ ستائينه اوس او د هميشه دپاره کوئ.“ بيا ټولو خلقو ووئيل، ”د مالِک خُدائ ثناء
صِفت دې وى، آمين.“

## په يروشلم او جبعون کښې عبادت کول

۳۷ داؤد بادشاه آسف او د هغۀ ملګرى ليويان د هرې ورځې د خِدمت دپاره مقرر کړل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په هغه ځائ کښې کېدو چرته چې د لوظ صندوق کېښودلے شو. هغوئ به هلته هره
ورځ خپلې ذمه وارئ پوره کولې. ۳۸ د يدوتون زوئ عوبيد ادوم او د هغهٔ د قبيلې اتهٔ
شپېتهٔ سړو د هغوئ مدد کولو. حوسه او عوبيد ادوم د دروازو د څوکيدارئ مشران وُو.
۳۹ په دې دوران کښې، داؤد صدوق اِمام او د هغهٔ ملګرى اِمامان د جبعون د عبادت
په ځائ کښې د مالِک خُدائ په مقدسه خېمه کښې مقرر کړل. ۴۰ هر سحر او هر
ماښام به هغوئ په قربانګاه باندې سوزېدونکې نذرانې پېش کولې. دا د هغه ليکلى قانون
په مطابق وُو کوم چې مالِک خُدائ بنى اِسرائيلو له ورکړے وو. ۴۱ هلته د هغوئ سره
هيمان، يدوتون او نور کسان وُو چې کوم خصوصاً د مالِک خُدائ د نهٔ ختمېدونکې
مينې د ثناء صِفت کولو دپاره خوښ کړے شوى وُو. ۴۲ هيمان او يدوتون د بيګلو،
چمتو او د موسيقئ د نورو څيزونو مشرى هم کوله چې په هغه وخت کښې غږولے شول
چې کله ثناء صِفت وئيلے شو. د يدوتون زامن د دروازې په څوکيدارئ مقرر وُو. ۴۳
نو بيا ټول خلق خپلو خپلو کورونو ته واپس شول او داؤد هم لاړو چې د خپل خاندان د
برکت سبب شى.

## د حضرت داؤد سره د خُدائ پاک لوظ

۱۷ ۱ نو کله چې داؤد بادشاه په خپل محل کښې اوسېدو، يوه ورځ هغهٔ ناتن پېغمبر
راوغوښتو او ورته يې وفرمائيل، ”زهٔ دلته په يو داسې ښائسته کور کښې اوسېږم چې د
دِيار د لرګى نه جوړ دے، خو د مالِک خُدائ د لوظ صندوق په خېمه کښې پروت دے.“
۲ ناتن ورته وفرمائيل، ”ستا په زړهٔ کښې چې څهٔ وى نو هم هغه شان وکړه، ځکه چې
خُدائ پاک ستا مل دے.“ ۳ خو په هغه شپه د خُدائ پاک کلام په ناتن نازل شو چې،
۴ ”لاړ شه او زما خِدمت کوونکى داؤد ته ووايه چې مالِک خُدائ داسې فرمائى چې تهٔ
هغه څوک نهٔ يې چې زما د اوسېدو دپاره يو کور جوړ کړې. ۵ د هغه وخت نه واخله
چې ما بنى اِسرائيليان د مِصر نه راويستلى دى تر اوسه پورې، زهٔ هيڅکله په يو کور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې نۀ يم اوسېدلے، زۀ همېشه په يوه خېمه کښې اوسېدلے يم چې د يو ځائ نه به بل
ځائ ته تلم. ۶ ما چې د بنی اِسرائيلو سره ځومره سفر هم کړے دے او چې ما څوک
د خپلو خلقو د رهنمائی دپاره مقرر کړی دی ما د هغوئ يو کس ته هم نۀ دی وئيلی چې
هغوئ زما دپاره د دِيار نه يو کور ولې نۀ دے جوړ کړے. ۷ نو زما خِدمت کوونکی
داؤد ته ووايه چې زۀ ربُ الافواج هغۀ ته وايم چې ما تۀ په پټو کښې د ګډو د شپونتوب نه
اوچت کړې او د خپلو خلقو بنی اِسرائيلو بادشاه مې جوړ کړې. ۸ تۀ چې چرته هم
تلے يې نو زۀ ستا مل وم او چې تۀ مخ په وړاندې تلې نو ما ستا ټولو دشمنانو له شکست
ورکړے دے. زۀ به تا د دُنيا د لويو مشرانو په شان مشهور کړم. ۹-۱۰ ما د خپلو
خلقو بنی اِسرائيلو دپاره يو ځائ خوښ کړے دے او هلته مې آباد کړی دی، چې هلته به
هغوئ بغېر د څۀ تکليف نه ژوند تېروی. د کوم وخت نه چې هغوئ دې مُلک ته ننوتلی
دی او ما ورباندې قاضيان مقرر کړی وُو تر نن ورځې پورې په هغوئ باندې ظالمان
خلق زياتے کوی، خو داسې به بيا نۀ کيږی. زۀ دا وعده کوم چې زۀ به ستا ټولو
دشمنانو له شکست ورکړم او اولاد به درکړم. ۱۱ کله چې تۀ مړ شې او د خپل پلار
نيکۀ سره ښخ شې، نو زۀ به ستا د زامنو نه يو زوئ بادشاه جوړ کړم او د هغۀ بادشاهی
به مضبوطه کړم. ۱۲ هغه به هغه څوک وی چې زما دپاره يو کور جوړ کړی او زۀ به
دا خبره يقينی کړم چې د هغۀ بادشاهی به د همېشه دپاره قائمه وی. ۱۳ زۀ به د هغۀ
پلار يم او هغه به زما زوئ وی. زۀ به د هغۀ نه خپله نۀ ختمېدونکې مينه نۀ لرې کوم لکه
څنګه چې ما د ساؤل نه لرې کړه، چې هغه ما د دې دپاره لرې کړو چې تۀ بادشاه شې.
۱۴ زۀ به هغه زما د کور او زما د بادشاهۍ د همېشه دپاره مشر جوړ کړم. د هغۀ
بادشاهی به هيڅکله نۀ ختمېږی.“ ۱۵ ناتن داؤد ته هغه هر څۀ وفرمائيل چې مالِک
خُدائ ورته په رويا کښې ښودلی وُو او کلام يې هم ورسره کړے وو.

## د حضرت داؤد دُعا

۱۶ بيا داؤد بادشاه د مالِک خُدائ د حضور خېمې ته وردننه شو، کښېناستو او دُعا يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه، ”مالِکه خُدایه، خُدایه پاکه، زهٔ څوک یم او زما خاندان به څهٔ وی چې تا مونږ تر
دې پورې راورسولو. ۱۷ خو تهٔ نور هم ډېر څهٔ کوې، تا په راتلونکی وخت کښې زما د
اولاد په حقله وعدې کړې دی او مالِکه خُدایه، خُدایه پاکه، تهٔ ما سره د یو اوچت مقام
لرونکی کس په شان سلوک کوې. ۱۸ زهٔ نور تا ته څهٔ ووایم. تهٔ ما ښهٔ پېژنې او بیا هم د
خپل خِدمت کوونکی یعنې زما درناوے کوې. ۱۹ اے مالِکه خُدایه، د خپل خِدمت
کوونکی د خاطره، او د خپلې مرضۍ په مطابق تا دا ټول لوئ لوئ کارونه کړی او
ښودلی دی. ۲۰ مالِکه خُدایه، ستا په شان هیڅ څوک هم نشته، مونږ هیڅکله دا نهٔ دی
اورېدلی چې ستا په شان بل خُدائ پاک شته. ۲۱ د زمکې په مخ د بنی اِسرائیلو په شان
بل قوم نشته، کوم چې تا په بیعه د غلامۍ نه آزاد کړل چې ستا خپل خلق شی. تا چې
کوم لوئ او عجیبه کارونه کړی دی د هغې په وجه ستا نوم مشهور شو. تا خپل خلق د
مِصر نه آزاد کړل او چې کله هغوئ مخ په وړاندې تلل نو تا هغه نور قومونه وشړل. ۲۲
تا بنی اِسرائیلیان د همېشه دپاره خپل خلق جوړ کړی دی او مالِکه خُدایه اوس تهٔ د
هغوئ خُدائ پاک جوړ شوے یې. ۲۳ نو اوس، اے مالِکه خُدایه، تا چې زما او زما د
اولاد په حقله کومې وعدې کړې دی هغه د همېشه دپاره پوره کړه او هغه څهٔ وکړه چې
تا د څهٔ په حقله فرمائیلی دی. ۲۴ ستا شُهرت به لوئ وی او خلق به د تل دپاره وائی
چې، ”ربُ الافواج د بنی اِسرائیلو خُدائ پاک دے.“ او تهٔ به د همېشه دپاره زما د اولاد د
بادشاهۍ حِفاظت کوې. ۲۵ زما خُدایه پاکه، زهٔ دا جرأت کوم چې زهٔ ستا نه دا سوال
وکړم، ځکه چې دا هر څهٔ تا خپل خِدمت کوونکی یعنې ما ته څرګند کړی دی او تا ما ته
فرمائیلی دی چې تهٔ به زما اولاد نه بادشاهان جوړوې. ۲۶ مالِکه خُدایه، تهٔ خُدائ پاک
یې او تا د خپل خِدمت کوونکی سره د دې ښو خیزونو وعده کړې ده. ۲۷ نو زهٔ تا ته
سوال کوم چې زما اولاد له برکت ورکړه. مالِکه خُدایه، هغوئ به د همېشه دپاره ستا په
برکت کښې پاتې شی او ستا برکت دې د همېشه دپاره د هغوئ سره وی.“

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د حضرت داؤد کامیابۍ

۱۸ ⑴ څۀ موده وروستو داؤد بادشاه يو ځل بيا په فلستيانو حمله وکړه او شکست
يې ورکړو. هغۀ د هغوئ د قبضې نه د جات ښار او ګېرچاپېره کلي واخستل. ⑵ هغۀ
موآبيانو له هم شکست ورکړو، او هغوئ د هغۀ د بادشاهۍ لاندې راغلل او هغۀ له يې
محصُول ورکولو. ⑶ بيا، داؤد د ضوباه بادشاه هددعزر له شکست ورکړو او د حمات
پورې لاړو، ځکه چې کله هددعزر مخ په وړاندې تلو نو د فرات سيند پورې علاقه يې
قبضه کړه. ⑷ داؤد د هغۀ يو زر جنګي ګاډۍ، اووۀ زره په آسونو سوارۀ سړی او شل
زره پياده فوجيان ونيول. هغۀ دومره آسونه پرېښودل چې د سلو جنګي ګاډو دپاره کافي
وُو او باقي چې کوم پاتې وُو نو هغه ټول يې ګوډ کړل. ⑸ کله چې د دمشق شاميانو د
هددعزر بادشاه د مدد دپاره يو لښکر ولېږلو، نو داؤد وربانديې حمله وکړه او دوويشت
زره سړی يې ترې نه ووژل. ⑹ بيا هغۀ د هغوئ په علاقه کښې فوجي کيمپونه ولګول او
هغوئ د هغۀ د بادشاهۍ لاندې راغلل او هغۀ له يې محصُول ورکولو. مالِک خُدائ داؤد
له په هر ځائ کښې فتح ورکوله. ⑺ داؤد د سرو زرو هغه ډالونه قبضه کړل چې کوم د
هددعزر آفسرانو وړل او دا يې يروشلم ته يوړل. ⑻ هغۀ د طِبخت او قون ښارونو نه په
لوئ مِقدار کښې زېړ هم يوړل، چې په دې ښارونو باندې هددعزر بادشاهي کوله.
وروستو سليمان دا د زېړو ډېګۍ، ستنو او د عبادتخانې د زېړو د لوښو جوړولو دپاره
استعمال کړل. ⑼ د حمات بادشاه توعو خبر شو چې داؤد د هددعزر ټول لښکر له
شکست ورکړے دے. ⑽ نو هغۀ خپل زوئ هدورام ورولېږلو چې داؤد بادشاه ته
سترې مشې وکړی او په هددعزر باندې د فتح موندلو مبارکي ورکړی، چې د هغۀ خِلاف
توعو څو ځلې جنګېدلے وو. هدورام داؤد له تُحفې راوړې چې د سرو زرو، سپينو زرو
او زېړو نه جوړې وې. ⑾ داؤد بادشاه دا خيزونه وقف کړل چې په عبادت کښې
استعمال شی، سره د هغه سپينو او سرو زرو چې د هغه قومونو نه يې اخستی وُو چې
کوم يې فتح کړی وُو لکه چې ادوم، موآب، عمون، فلستيه او عماليق. ⑿ ابيشی چې د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغهٔ مور ضرویاه وه، هغهٔ د مالګې په مېدان کښې ادومیانو له شکست ورکړو او د
هغوئ نه يې اتلس زره کسان ووژل. ۱۳ هغهٔ په ټول ادوم کښې فوجی کېمپونه ولګول او
د هغه ځائ خلق د داؤد د بادشاهۍ لاندې راغلل. مالِک خُدائ داؤد له په هر ځائ کښې
فتح ورکوله. ۱۴ داؤد په ټولو بنی اِسرائيلو باندې حکومت کولو او دا خبره يې يقينی
کړه چې د هغهٔ د خلقو سره همېشه د حق او اِنصاف سلوک کېږی. ۱۵ د ابيشی ورور
يوآب د فوج مشر وو، د اخيلود زوئ يهوسفط منشی وو، ۱۶ د اخيطوب زوئ صدوق
او د ابياتار زوئ اخيمُلک اِمامان وُو، شَوشا د دربار منشی وو، ۱۷ د يهويدع زوئ
بناياه د داؤد د محافظانو مشر وو، او د داؤد زامنو د هغهٔ په خِدمت کښې لوئې عُهدې
لرلې.

## د حضرت داؤد عمونيانو او شاميانو له شکست ورکول

۱۹ ۱ څهٔ موده وروستو عمونے بادشاه ناحس مړ شو او د هغهٔ زوئ حنون بادشاه
جوړ شو. ۲ داؤد بادشاه وفرمائيل، "زهٔ به حنون ته خپله وفاداری هم هغه شان ښايم
لکه څنګه چې د هغهٔ پلار ناحس ما ته وفاداری ښودلې وه." نو داؤد پېغام وړُونکی
ورولېږل چې هغهٔ ته د خپلې غمرازۍ اظهار وکړی. کله چې هغوئ عمون ته ورسېدل او
حنون بادشاه هغوئ راوغوښتل، ۳ نو د عمونيانو مشرانو بادشاه ته ووئيل، "ستا خيال
دا دے چې داؤد د غمرازۍ دپاره کوم سړی رالېږلی دی نو په دې وجه ستا د پلار عزت
کېږی څهٔ؟ په حقيقت کښې داسې نهٔ ده. هغهٔ دا د جاسوسۍ دپاره رالېږلی دی چې مُلک
ولټوی، او فتح يې کړی." ۴ نو حنون د داؤد پېغام وړُونکی ونيول او د هغوئ نه يې
ږيرې کلې کړې، د هغوئ چُوغې يې د کوناټو سره پرې کړې او هغوئ يې ولېږل. ۵ نو
هغوئ دومره سخت شرمېدل چې خپلو کورونو ته نهٔ شول واپس کېدلے. کله چې داؤد
خبر شو چې څهٔ شوی وُو، نو هغهٔ هغوئ له خبر ورولېږلو چې په يريحو کښې ايسار شئ
او تر هغې پورې واپس مهٔ راځئ چې ترڅو پورې مو ږيرې بيا نهٔ وی شوې. ۶ حنون

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه او عمونیانو ته پته ولګېده چې هغوئ داؤد بادشاه غصه کړے دے، نو هغوئ
څلور دېرش زره کلو سپین زر ورکړل چې د برنی مسوپیتامیه او د شامی علاقو معکه او
ضوباه نه جنګی ګاډی او د ګاډو چلوونکی په مزدورئ ونیسی. ۷ هغهٔ دوه دېرش زره
جنګی ګاډی چې هغوئ په کرایه ونیولې او د معکه بادشاه لښکر راغلو او د میدبا سره
نزدې یې خېمې ولګولې. عمونیان هم د خپلو ټولو ښارونو نه راووتل او د جنګ دپاره تیار
شول. ۸ کله چې داؤد د حالاتو نه خبر شو، نو هغهٔ یوآب او ټول لښکر ورولېږلو. ۹
عمونیان روان شول او د شاهی ښار ربه دروازې سره یې د جنګ دپاره صفونه جوړ
کړل او هغه بادشاهان چې کوم د مدد دپاره راغلی وُو نو هغوئ هم په کولاو مېدان کښې
صفونه جوړ کړل. ۱۰ یوآب ته پته ولګېده چې د دشمن لښکر به په هغهٔ باندې د مخې او
شا د طرف نه حمله وکړی، نو هغهٔ ښهٔ تکړه بنی اِسرائیلی فوجیان خوښ کړل او هغوئ
یې د جنګ دپاره شامیانو ته مخامخ ودرول. ۱۱ هغهٔ باقی پاتې فوجیان د خپل ورور
ابیشی د مشرئ لاندې راوستل، چې هغهٔ دوئ د جنګ دپاره عمونیانو ته مخامخ ودرول.
۱۲ یوآب هغهٔ ته ووئیل، "کهٔ تا ته پته ولګی چې شامیان ما له شکست راکوی، نو راشه
او زما مدد وکړه او کهٔ عمونیان تا له شکست درکوی، نو زهٔ به درشم او ستا مدد به
وکړم. ۱۳ تکړه شه او حوصله مضبوطه کړه. راځئ چې د خپلو خلقو او زمونږ د
خُدائ پاک د ښارونو دپاره سخت جنګ وکړُو. او د مالِک خُدائ مرضی دې پوره شی."
۱۴ یوآب او د هغهٔ سړی د حملې کولو دپاره وړاندې شول او شامیان وتښتېدل. ۱۵
کله چې عمونیانو ولیدل چې شامیان منډې وهی، نو هغوئ د ابیشی نه وتښتېدل او ښار
ته واپس ننوتل. بیا یوآب یروشلم ته واپس لاړو. ۱۶ شامیانو ته پته ولګېده چې هغوئ د
بنی اِسرائیلو نه شکست خوړلے دے، نو هغوئ د فرات سیند نمرخاتهٔ طرف ته د شام
علاقو نه فوجیان راوستل او هغوئ یې د سوفک د مشرئ لاندې کړل، چې د ضوباه د
هددعزر بادشاه د لښکر مشر وو. ۱۷ کله چې داؤد د دې نه خبر شو، نو هغهٔ د بنی
اِسرائیلو فوجیان راغونډ کړل، د اُردن سیند نه پورې وتل او شامیانو ته یې مخامخ د
جنګ دپاره ودرول. او جنګ شروع شو، ۱۸ او بنی اِسرائیلو د شامیانو فوج واپس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشړلو. داؤد او د هغۀ سرو اووۀ زره د شام د جنګی ګاډو چلوونکی او څلويښت زره
پېدل فوجيان ووژل. هغوئ د شاميانو د فوج مشر، سوفک هم ووژلو. ۱۹ کله چې هغه
بادشاهانو ته پته لګېده کوم چې د هددعزر د بادشاهۍ لاندې وُو چې هغوئ د بنی اِسرائيلو
نه شکست خوړلے دے، نو هغوئ د داؤد سره د امن تړون وکړو او د هغۀ د بادشاهۍ
لاندې راغلل. شاميانو بيا هيڅکله دا ونۀ غوښتل چې د عمونيانو مدد وکړی.

## د حضرت داؤد ربه قبضه کول

۲۰ ۱ په وريسې سپرلی کښې، د کال په هغه وخت کښې چې بادشاهان عموماً د
جنګ دپاره ځی، يوآب لښکر روان کړو او د عمون مُلک يې تباه کړو، اګر چې داؤد
بادشاه په يروشلم کښې ايسار وو. هغوئ د ربه ښار محاصره کړو او په دې يې حمله
وکړه او تباه يې کړو. ۲ د عمونيانو د بُت مولک يو د سرو زرو تاج وو چې تقريباً
څلور ديرش کلو وزن يې وو. په دې کښې يو قيمتی کاڼے وو، کوم چې داؤد يوړو او په
خپل تاج کښې يې ولګولو. هغۀ د هغه ښار نه ډېر زيات مالِ غنيمت هم يوړو. ۳ هغۀ د
ښار خلق بوتلل او په زور يې ترې نه د ارو، د اوسپنې کودالو او د تبرُونو کار اخستلو.
هغۀ د عمون د نورو ټولو ښارونو په خلقو هم دغه شان وکړل. بيا هغه او د هغۀ سرې
يروشلم ته را واپس شول.

## د فلستيانو د ديوانو خِلاف جنګونه

۴ وروستو په جزر کښې د فلستيانو سره جنګ بيا شروع شو. د جنګ په دوران کښې
د حوسه سِبکی يو ديو ووژلو چې د هغه ديو نوم سفی وو. او فلستيانو شکست وخوړو.
۵ د فلستيانو سره يو بل جنګ وشو او د يائير زوئ اِلحنان لحمی ووژلو، لحمی د
جات د جوليت ورور وو، او د هغۀ د نيزې لاسکے د کوټې د تير هومره مضبوط وو.
۶ په جات کښې يو بل جنګ وشو، چې په دې جنګ کښې يو ديو وو چې د هر لاس يې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شپږ ګوتې او د هرې پښې يې هم شپږ ګوتې وې. هغه د پخوانو ديوانو اولاد وو. ۷ کله
چې هغۀ په بنى اِسرائيلو پورې ټوقې وکړې، نو يونتن هغه ووژلو، يونتن د داؤد د ورور د
سِمعه زوئ وو. ۸ دا درې کوم چې داؤد او د هغۀ سړو وژلى وُو، هغوئ د جاټ د
ديوانو اولاد وو.

## مردم‌شمارى او وبا

۲۱ ۱ شيطان غوښتل چې په بنى اِسرائيلو باندې مصيبت راولى، نو هغۀ داؤد
ولمسولو چې يوه مردم‌شمارى وکړى. ۲ نو داؤد يوآب او نورو آفسرانو له حُکم
ورکړو، ”د بنى اِسرائيل مُلک د يو سر نه تر بل سر پورې وګرځئ او خلق وشميرئ. ما
له تفصيل راوړئ چې پته راته ولګى چې څومره خلق دى.“ ۳ يوآب جواب ورکړو،
”بادشاه سلامت، مالِک خُدائ دې بنى اِسرائيليان د هغې نه يو په سل زيات کړى چې
څومره اوس دى. هغوئ ټول ستا نوکران دى. تۀ ټول قوم ولې مجرم کول غواړې؟“ ۴
خو بادشاه په يوآب باندې دا حُکم ومنلو. نو يوآب لاړو او هغه د بنى اِسرائيلو په ټول
مُلک کښې وګرځېدو او يروشلم ته واپس راغلو. ۵ هغۀ داؤد بادشاه د دې نه خبر کړو
او د هغه ټولو سړو شمېر دا وو چا چې جنګ کولے شو: په بنى اِسرائيلو کښې يوولس
لاکه او په يهوداه کښې څلور لاکه او اويا زره. ۶ يوآب د بادشاه حُکم ته سپک وکتل
نو هغۀ څکه د ليوى او بنيامين د قبيلو مردم‌شمارى ونۀ کړه. ۷ چې څۀ شوى وُو
خُدائ پاک په هغې ناراضه شو، نو هغۀ بنى اِسرائيلو له سزا ورکړه. ۸ داؤد خُدائ
پاک ته وفرمائيل، ”ما د دې کار کولو سره يوه سخته ګناه کړې ده. زۀ تا ته سوال کوم
چې زما غلطى معاف کړه. ما د ډېر کم عقلتوب نه کار اخستے دے.“ ۹ بيا مالِک
خُدائ جاد ته وفرمائيل چا به چې د داؤد دپاره نبوت کولو، ۱۰ ”لاړ شه او داؤد ته
ووايه چې زۀ هغۀ له درې خوښې ورکوم. چې هغه کومه يوه خوښه کړى نو زۀ به هم هغه
شان وکړم.“ ۱۱ نو جاد داؤد له لاړو او هغۀ ته يې وفرمائيل، ”مالِک خُدائ داسې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائی چې په دې کښې يوه خبره خوښه کړه: ١٢ د قحط درې کالونه دې خوښ دی؟
يا چې خپل دشمن درباندې درې مياشتې تباهی راولی؟ او يا چې درې ورځې د مالِک
خُدائ د تُورې لاندې راشې او هغه ستا په مُلک باندې يوه وبا راولېږی، او د خپلې فرښتې
په ذريعه په ټولو بنی اِسرائيلو کښې مرګ راولی؟ نو تۀ فيصله وکړه چې زۀ مالِک خُدائ
له څۀ جواب ورکړم، چا چې زۀ رالېږلے يم؟“ ١٣ داؤد جاد ته وفرمائيل، ”زۀ د
نااُميدئ په حالت کښې يم. ما دې ته مۀ پرېږده چې د انسانانو لاسونو ته حواله شم. زۀ
دې مالِک خُدائ ته حواله شم، ځکه چې د هغۀ رحم ډېر لوئ دے.“ ١٤ نو مالِک خُدائ
په بنی اِسرائيلو باندې يوه وبا راولېږله او د هغوئ اويا زره کسان مړۀ شول. ١٥ بيا هغۀ
د يروشلم د تباه کولو دپاره يوه تباه کوونکی فرښته راولېږله، خو د تباهئ نه لږ مخکښې
مالِک خُدائ خپله فيصله بدله کړه او د مرګ فرښتې ته يې وفرمائيل، ”بس کړه، دا تباهی
کافی ده.“ هغه فرښته د يو يبوسی اُرنان د درمند سره ولاړه وه. ١٦ داؤد فرښته وليده
چې پاس په هوا کښې ولاړه وه او تُوره يې د يروشلم تباه کولو دپاره په خپل لاس کښې
نيولې وه. بيا داؤد او د خلقو مشران، چا چې د ټاټ جامې اغوستې وې هغه ټول لاندې
ټيټ شول او په زمکه يې سجده ولګوله. ١٧ داؤد دُعا وکړه، ”اے خُدايه پاکه، زۀ هغه
څوک يم چا چې ګناه کړې ده. زۀ هغه څوک يم چا چې د مردم‌شمارئ حُکم ورکړو. دې
غريبانانو خلقو څۀ کړی دی؟ مالِکه خُدايه، زما خُدايه پاکه. ما او زما خاندان له سزا
راکړه او خپل خلق بچ کړه.“ ١٨ د مالِک خُدائ فرښتې جاد ته وفرمائيل چې داؤد ته
ووايه چې هغه د مالِک خُدائ دپاره د اُرنان په درمند کښې يوه قربان‌ګاه جوړه کړی.
١٩ داؤد د مالِک خُدائ حُکم ومنلو او لاړو، هم هغه شان کار يې وکړو چې څنګه ورته
جاد وئيلی وُو. ٢٠ هلته په درمند کښې اُرنان او د هغۀ څلورو زامنو غنم غوبل کول او
کله چې هغوئ فرښته وليده، نو د هغۀ زامنو منډه کړه او پټ شول. ٢١ څنګه چې اُرنان
داؤد بادشاه وليدو چې راورسېدو، نو هغه د درمند نه لاړو او د هغۀ په مخکښې د عزت نه
ټيټ شو او په زمکه يې سجده ولګوله. ٢٢ داؤد هغۀ ته وفرمائيل، ”په ما باندې خپل
درمند خرڅ کړه، نو چې داسې زۀ د مالِک خُدائ دپاره يوه قربان‌ګاه جوړه کړم او چې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د دې سره ويا بنده شی. نو زۀ به تا له د دې پوره قيمت درکړم.“ ۲۳ اُرنان ورته ووئيل،
”بادشاه سلامت، دا واخله او چې څۀ دې خوښه وی هغه وکړه. دا غوَيی دې د نذرانې په
توګه په قربانګاه باندې وسوزولې شی، د درمند دا تختې دې د خشاک په توګه استعمال
شی او د نذرانې ورکولو دپاره دا غنم دی. دا هر څۀ زۀ تا له درکوم.“ ۲۴ خو بادشاه
جواب ورکړو، ”نه، زۀ به تا له پوره قيمت درکوم. زۀ به مالِک خُدائ ته داسې يوه نذرانه
نۀ پېش کوم چې هغه ما ته مفت مِلاو شوې وی يا هغه ستا وی.“ ۲۵ او هغۀ اُرنان له د
درمند دپاره شپږ سوه د سرو زرو سيکې ورکړې. ۲۶ هغۀ هلته د مالِک خُدائ دپاره يوه
قربانګاه جوړه کړه او سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې يې ورباندې پېش کړې. هغۀ دُعا
وکړه او مالِک خُدائ د هغۀ دُعا قبوله کړه او په قربانګاه باندې د نذرانو سوزولو دپاره
مالِک خُدائ د آسمان نه اور راوليږلو. ۲۷ مالِک خُدائ هغه فرښتې ته وفرمائيل چې
خپله تُوره په کاش کښې واپس کېږده او فرښتې حُکم ومنلو. ۲۸ نو د دې په وجه داؤد
ته پته ولګېده چې مالِک خُدائ د هغۀ دُعا قبوله کړې ده، نو هغۀ د اُرنان په درمند کښې
په قربانګاه باندې قربانۍ پېش کړې. ۲۹ د مالِک خُدائ د حضور هغه خيمه کومه چې
موسیٰ په بيابان کښې جوړه کړې وه او هغه قربانګاه چې په کومه باندې قربانۍ
سوزولے شوې په هغه وخت کښې لا په جبعون کښې د عبادت په ځائ کښې وې، ۳۰
خو داؤد د دې جوګه نۀ وو چې هلته لاړ شی او د خُدائ پاک عبادت وکړی، ځکه چې
هغه د مالِک خُدائ د فرښتې د تُورې نه يرېدو.

۲۲ ۱ نو داؤد وفرمائيل، ”دا هغه ځائ دے چرته به چې د مالِک خُدائ، د خُدائ
پاک کور وی. دلته به هغه قربانګاه وی چرته چې بنی اِسرائيليان سوزېدونکې نذرانې
پېش کوی.“

## د مالِک خُدائ د کور د عمارت تيارے کول

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢ داؤد بادشاه هغه ټولو مسافرو له حُکم ورکړو کوم چې د بنی اِسرائيلو په مُلک کښې
اوسېدل چې راغونډ شی او د هغوئ نه يې کار اخستلو. په هغوئ کښې څۀ کسانو د
مالِک خُدائ د کور جوړولو دپاره کاڼی تيارول. ٣ هغۀ د مېخونو او د لرګی دروازو د
ترلو د پټو دپاره په لوئ مِقدار کښې اوسپنه، او دومره ډېر زيړ ورکړل چې هيچا هم نۀ
شُو تللے. ٤ هغۀ د صور او صيدا په خلقو باندې په يو لوئ شمېر کښې د دِيار لرګی
راوړل. ٥ داؤد وفرمائيل چې، ”زما زوئ سليمان چې د مالِک خُدائ کوم کور
جوړوی نو هغه دې خامخا د شان شوکت والا او په دُنيا کښې مشهور وی. خو هغه کم
عُمره او ناتجربه‌کاره دے، نو زۀ به د هغې دپاره تيارے وکړم.“ نو داؤد د خپل مرګ نه
مخکښې ډېر زيات سامان تيار کړو. ٦ هغۀ خپل زوئ سليمان راوغوښتلو او حُکم يې
ورکړو چې د مالِک خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک دپاره يو کور تيار کړی. ٧ داؤد
هغۀ ته وفرمائيل، ”زما زويه، ما دا غوښتل چې د مالِک خُدائ زما د خُدائ پاک د
درناوی دپاره يو کور جوړ کړم. ٨ خو د مالِک خُدائ کلام په ما نازل شو چې، تا ډېر
خلق وژلی دی او ډېر جنګونه دې کړی دی. نو چې ما کومه وينه تويه کړې ده د هغې په
وجه به هغه ما دې ته پرې نۀ ږدی چې د هغۀ دپاره کور جوړ کړم. ٩ خو هغۀ بيا هم
ما سره يوه وعده وکړه چې، ستا به يو زوئ پيدا شی چې هغه به په امن سره حکومت
کوی، ځکه چې زۀ به هغۀ له د هغۀ د ټولو ګېرچاپېره دشمنانو نه امن ورکړم. د هغۀ نوم
به سليمان وی، ځکه چې د هغۀ په بادشاهئ کښې به زۀ بنی اِسرائيلو له امن او سلامتی
ورکړم. ١٠ هغه به زما دپاره يو کور جوړ کړی. هغه به زما زوئ وی او زۀ به د هغۀ
پلار يم. هغه او د هغۀ اولاد به د تل دپاره په بنی اِسرائيلو باندې بادشاهی کوی.“ ١١
داؤد خپله خبره جاری وساتله، ”نو زما زويه، مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې ستا مل
شی او هغه دې خپله وعده پوره کړی چې تا د هغۀ دپاره په کور جوړولو کښې کامياب
کړی. ١٢ او مالِک خُدائ ستا خُدائ پاک دې پوهه او حِکمت درکړی نو تۀ به د هغۀ د
قانون په مطابق په بنی اِسرائيلو باندې حکومت وکړې. ١٣ کۀ تۀ هغه ټول قانون ومنې
کوم چې مالِک خُدائ موسىٰ له د بنی اِسرائيلو دپاره ورکړے وو، نو تۀ به کامياب يې.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تکړه شه او حوصله مضبوطه کړه او چې د هیڅ نه هم ونهٔ یرېږې. ۱۴ او د مالِک
خُدائ د کور دپاره ما په خپل ډېر کوشش سره څلور زره ټنه سرهٔ زر او کم از کم
څلوېښت زره ټنه سپین زر راغونډ کړی دی چې د دې په جوړولو کښې استعمال شی. د
دې نه علاوه بې‌حسابه اوسپنه او زېړ هم دی. ما څهٔ لرګی او کاڼی هم تیار کړی دی، خو
تهٔ به نور هم تیاروې. ۱۵ تا سره ډېر د کار والا سړی دی. د کاڼو جوړولو دپاره سړی
شته او ګِلکاران او ترکاڼان شته، هم داسې په لوئ شمېر کښې اُستاذان موجود دی چې
هر قِسم کار کولے شی ۱۶ لکه د سرو زرو، سپینو زرو، زېړو او اوسپنې. اوس کار
شروع کړه او مالِک خُدائ دې ستا مل شی.“ ۱۷ داؤد د بنی اِسرائیلو ټولو مشرانو له
حُکم ورکړو چې د سلیمان مدد وکړئ. ۱۸ هغهٔ وفرمائیل، ”مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک ستاسو مل دے او په هر طرف باندې یې خېر درکړے دے. هغهٔ په ما باندې هغه
ټول خلق فتح کړل کوم چې په دې مُلک کښې اوسېدل او هغوئ اوس ستاسو او د مالِک
خُدائ لاندې دی. ۱۹ نو اوس د زړهٔ د اخلاصه د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک لټون
وکړئ. د مالِک خُدائ کور جوړول شروع کړئ، نو چې تاسو په هغې کښې د مالِک
خُدائ د لوظ صندوق او هغه نور ټول مقدس سامان کېږدئ چې د هغهٔ په عبادت کښې
استعمالیږی.“

# ۲۳

۱ کله چې داؤد د ډېر عُمر شو، نو هغهٔ خپل زوئ سلیمان د بنی اِسرائیلو
بادشاه جوړ کړو.

## د لیویانو ذمه واری

۲ داؤد بادشاه د بنی اِسرائیلو ټول مشران، ټول اِمامان او لیویان راغونډ کړل. ۳
هغهٔ د هغه ټولو نرانو لیویانو مردم‌شماری وکړه چې عُمر یې دېرش کاله یا د دې نه زیات
وو. دا ټول شمېر اتهٔ دېرش زره وو. ۴ بادشاه د دې لیویانو نه څلیریشت زره کسان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقرر کړل چې د مالِک خُدائ د کور د کار اِنتظام وکړی، شپږ زره کسان چې اِنتظام
چلوی او لانجې هواروی، ۵ څلور زره کسان د څوکیدارئ دپاره او څلور زره کسان د
مالِک خُدائ د حمدوثناء وئیلو دپاره. هغوئ د موسیقئ هغه څیزونه استعمالول چې
بادشاه د دې دپاره ورکړی وُو. ۶ داؤد لیویان په درېو ډلو کښې د هغوئ د قبیلو په
مطابق تقسیم کړل، جیرسون، قُهات او مراری. ۷ د جیرسون دوه زامن وُو، لعدان او
سِمعی. ۸ د لعدان درې زامن وُو، مشر یحیٰ‌ایل، ورپسې زیتان او یوایل، ۹ چې
هغوئ د هغه ډلو مشران وُو چې د لعدان اولاد وو. د سِمعی درې زامن وُو، سلومیت،
حزی‌ایل او حاران. ۱۰-۱۱ د سِمعی څلور زامن د عُمر په ترتیب دا وُو، یحت، زینا،
یعوس او برِیعاه. د یعوس او برِیعاه بچی ډېر نۀ وُو، نو په دې وجه هغوئ یوه ډله
شمېرلے کېدل. ۱۲ د قُهات څلور زامن وُو، عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزی‌ایل. ۱۳ د
هغۀ مشر زوئ عُمرام د هارون او موسیٰ پلار وو. هارون او د هغۀ اولاد د دې دپاره
مخصوص کړے شوی وُو چې د همېشه دپاره د مقدسو څیزونو مشران وی، چې د
مالِک خُدائ په عبادت کښې خوشبوئی سوزوی، د هغۀ خِدمت کوی او د مالِک خُدائ
په نوم باندې د خلقو دپاره برکت غواړی. ۱۴ خو د خُدائ پاک د خِدمتګار موسیٰ زامن
په لیویانو کښې شامل وُو. ۱۵ د موسیٰ دوه زامن وُو، جیرسوم او اِلی‌عزر. ۱۶ د
جیرسوم په زامنو کښې مشر سبوایل وو. ۱۷ د اِلی‌عزر صِرف یو زوئ رحبیاه وو، خو
د رحبیاه بچی ډېر وُو. ۱۸ د قُهات د دویم زوئ اِضهار، زوئ سلومیت وو چې د قبیلې
مشر وو. ۱۹ د قُهات درېم زوئ حبرون څلور زامن وُو، یریاه، امریاه، یحزی‌ایل او
یقمعام. ۲۰ د قُهات د څلورم زوئ عُزی‌ایل دوه زامن میکاه او یسیاه وُو. ۲۱ د مراری
دوه زامن محلی او موشی وُو. د محلی هم دوه زامن اِلی‌عزر او قیس وو، ۲۲ خو د
اِلی‌عزر زامن نۀ وُو، صِرف لونړه یې وې او بې‌زامنو مړ شو. د هغۀ لونړو د خپل ترۀ زامنو
یعنې د قیس د زامنو سره ودونه وکړل. ۲۳ د مراری دویم زوئ موشی درې زامن وُو،
محلی، عدر او یریموت. ۲۴ دا قبیله په قبیله او خاندان په خاندان د لیوی اولاد دے،
چې د هغوئ هر یو نومونه لیکلے شوی وُو. د هغۀ د اولاد هر یو کس د مالِک خُدائ په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور کښې خِدمت کولو چې د هغوئ عُمر شل کاله يا د دې نه زيات وو. ۲۵ داؤد
وفرمائيل، ”مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک خپل خلق په امن کړى دى او هغه به
په خپله په يروشلم کښې د تل دپاره اوسيږى. ۲۶ نو ليويانو ته نور ضرورت نشته چې د
مالِک خُدائ د حضور خيمه او هغه ټول سامان يوسى چې په عبادت کښې
استعماليږى.“ ۲۷ د داؤد د آخرى وصيت په بنياد کله چې ليويان د شلو کالو عُمر ته
رسېدل نو د هغوئ ټولو نومونه د خِدمت دپاره ليکلے شول، ۲۸ او هغوئ ته دا کارونه
حواله شوى وُو: د مالِک خُدائ د کور په عبادت کښې د هارون د اولاد مدد کول، د کور
د دربارونو او کوټو خيال ساتل، او چې کوم څيزونه مقدس وُو هغه هر څۀ د پليتېدو نه
پاک ساتل، ۲۹ خُدائ پاک ته د پيش کړے شوې روټئ او د هغه اوړو ذمه وارى
اخستل چې په نذرانو کښې استعمالېدل، د خمبيرې نه بغير نرئ پخې شوې روټئ، پخې
شوې نذرانې او اوړۀ چې د زيتُونو تيل ورسره ګډ وى، د مالِک خُدائ د کور د نذرانو تَلل
او مِقدار معلومول، ۳۰ او هر سحر او هر ماښام د مالِک خُدائ په وړاندې ودرېدل، د
هغۀ ثناء صِفت کول او د هغۀ شُکر ادا کول، ۳۱ او هر کله چې د سبت په ورځ، د نوې
مياشتې په اختر او نورو اخترونو باندې مالِک خُدائ ته نذرانې سوزولے شوې، نو هغوئ
به مدد کولو. ليويانو به هر ځل د مالِک خُدائ په حضور کښې د سړو د شمېر په مطابق
خِدمت کولو، هغوئ په هغه اصُولو باندې عمل کولو چې کوم ورته ښودلے شوى وُو.
۳۲ هغوئ له د مالِک خُدائ د حضور خيمې او کور د خيال ساتلو او د هغوئ د
خپلوانو يعنې د هارون د اولاد اِمامانو د مدد کولو ذمه وارئ ورکړے شوې وې، چې دا
ذمه وارئ د مالِک خُدائ د کور په خِدمت کښې ادا کيدې.

## اِمامانو ته جدا جدا خِدمت حواله کېدل

۲۴ ۱ دا د خِدمت هغه قبيلې دى چې د هارون اولاد په کښې تقسيم وو. د هارون
څلور زامن وُو: ندب، ابيهُو، اِلىعزر او اِتمر. ۲ ندب او ابيهُو د خپل پلار د مرګ نه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مخکښې مړهٔ شول او د هغوئ اولاد نهٔ وو، نو د هغوئ وروڼه اِلیعزر او اِتمر اِمامان
شول. ۳ داؤد بادشاه د هارون د اولاد نه د هغوئ د ذمه وارو په مطابق په ډلو کښې
تقسيم کړل. په دې کار کښې د هغهٔ مدد د اِلیعزر اولاد صدوق او د اِتمر اولاد اخيمُلک
کولو. ۴ د اِلیعزر د اولاد نه شپاړس قبيلې جوړې شوې وې، د اِتمر د اولاد نه اتهٔ
قبيلې جوړې وې، داسې په دې وجه شوی وُو چې د اِلیعزر په اولاد کښې د کورَنو نور
مشران وُو. ۵ د اِلیعزر او اِتمر دواړو په اولاد کښې د مالِک خُدائ په کور کښې د
خِدمت دپاره تکړه آفسران او اِمامان وُو نو ټولې ذمه وارئ مختلفو ډلو ته د پچې په
ذريعه حواله شوې وې. ۶ د اِلیعزر او د اِتمر اولاد دپاره وار په وار پچه اچولے شوه.
نو د هغوئ نومونه د نتنیايل زوئ سمعياه ليکلی وُو چې دا يو ليوے منشی وو. بادشاه، د
هغهٔ آفسران، صدوق اِمام، د ابياتار زوئ اخيمُلک او د ليوی قبيلې او د اِمامانو د کورَنو
مشران ټول د دې ګواهان وُو. ۷-۱۸ دا هغه ترتيب دے چې په هغې کښې د څليريشتو
کورَنو ډلو ته خپلې خپلې ذمه وارئ حواله شوې وې: يهويريب، يدعياه، حارِم، شعوريم،
مُلکياه، ميامين، هقوض، ابياه، يشوَع، سکانياه، اِلياسب، يقيم، خُفاه، يسباب، بِلجاه،
اِمير، حزير، حفضيض، فتحياه، يحزقيل، يکين، جمول، دلاياه او معزياه. ۱۹ د دې
سړو نومونه د هغوئ د ذمه وارو په مطابق ليکلے شوی وُو چې کله هم هغوئ د مالِک
خُدائ کور ته د خپلو هغه ذمه وارو دپاره تلل کوم چې د هغوئ پلار نيکهٔ هارون د مالِک
خُدائ د بنی اِسرائيلو خُدائ پاک د حُکمونو د منلو دپاره مقررې کړې وې.

## د ليويانو نومونه

۲۰ دا د ليوی د اولاد کورَنو نور مشران دی: يهدياه چې د سبواېل په ذريعه د عُمرام
اولاد وو، ۲۱ يسياه د رحبياه اولاد، ۲۲ يحت، د سلوميت نه د اِضهار اولاد، ۲۳ د
عُمر په ترتيب باندې د حبرون زامن دا وُو، يرياه، امرياه، يحزیايل، يقمعام، ۲۴ سمير،
د ميکاه نه د عُزیايل اولاد، ۲۵ زکرياه، د ميکاه ورور يسياه نه د عُزیايل اولاد، ۲۶ د

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مراری اولاد، محلی، موشی او یعزیاه. ٢٧ د یعزیاه درې زامن وُو، سوهم، زکور او
عبری. ٢٨-٢٩ د محلی دوه زامن اِلیعزر او قیس وُو. د اِلیعزر زامن نۀ وُو، خو د
قیس یو زوئ یرحمئیل وو. ٣٠ د موشی درې زامن وُو، محلي، عدر او یریموت. دا د
لیویانو خاندان دی. ٣١ د هر خاندان مشرانو او کشرانو ورونړو یو شان د هغوئ د ذمه
وارو دپاره پچه اچوله، هم هغه شان لکه څنګه چې د هغوئ خپلوانو یعنې د هارون د
اولاد اِمامانو وُو. داؤد بادشاه، صدوق، اخیمُلک او د اِمامانو او د لیویانو د کورَنو
مشران او د دې ګواهان وُو.

## د مالِک خُدائ د کور موسیقاران

٢٥ ١ داؤد بادشاه او د لیویانو مشرانو د لیویانو دا قبیلې خوښې کړې چې د خُدائ
پاک پېغام بیانوی، آسف، هیمان او یدوتون. دې سړو به د بینجو، ربابونو او چمټو د
موسیقۍ سره پېشګوئې ورکوله. دا د هغه کسانو نوموونه دی کوم چې د عبادت د مشرۍ
دپاره خوښ کړے شوی وُو، چې هرې قبیلې به هم هغه قِسم خِدمت کولو: ٢ د آسف
څلورو زامنو زکور، یوسف، نتنیاه او اسرئ‌لاه، د آسف د مشرۍ لاندې کار کولو. چې
کله هم بادشاه حُکم کولو نو آسف به د خُدائ پاک پېغام بیانولو. ٣ د یدوتون شپږو
زامنو جدلیاه، ضری، یشعیاه، سِمعی، حسبیاه او متتیاه، د خپل پلار د ښودنې لاندې کار
کولو، یدوتون د ربابونو د موسیقۍ سره د خُدائ پاک پېغام بیانولو، حمدوثناء یې وئیله
او د مالِک خُدائ شُکر یې ادا کولو. ٤ د هیمان څوارلس زامنو بُقیاه، متنیاه، عُزئ‌ایل،
سبوائیل، یریموت، حننیاه، حنانی، الیاته، جدالتی، روممتی عزر، یسبقاشه، ملوتی، هوتیر
او محازیوت. ٥ خُدائ پاک د خپلې وعدې په مطابق هیمان د بادشاه پېغمبر له دا
څوارلس زامن او درې لوڼه د دې دپاره ورکړې وې چې هیمان عزتمند شی. ٦ د هغۀ
ټولو زامنو د خپل پلار د ښودنې لاندې چمټۍ، بینجو او ربابُونه د مالِک خُدائ د کور په
عبادت کښې غږول. او آسف، یدوتون او هیمان د بادشاه د حُکم لاندې کار کولو. ٧ دا

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځلېریشت واړه تجربه‌کار سړی وُو، او د هغوئ خپلوان لیویان تکړه موسیقاران وُو. دا
ټول دوه سوه او اتۀ اتیا سړی وُو. ٨ هغوئ ته د کارونو ذمه وارئ حواله کولو دپاره
پچه اچولے شوه، کۀ هغوئ ځوانان وُو او یا بوډاګان، کۀ اُستاذان او یا کۀ شاګردان
وُو. ٩-٣١ دا دوه سوه او اتۀ اتیا سړی د کورَنو په مطابق د دولسو دولسو کسانو په
ځلېریشتو ډلو کښې تقسیم کړے شوی وُو، چې د هرې قبیلې یو یو مشر وو. هغوئ په
دې ترتیب کار کولو: د آسف د خاندان نه یوسف، جدلیاه، زکور، ضری، نتنیاه، بُقیاه،
اسرئ‌لاه، یشعیاه، متنیاه، سِمعی، عُزئ‌ایل، حسبیاه، سبوایل، متتیاه، یریموت، حننیاه،
یسبقاشه، حنانی، ملوتی، الیاته، هوتیر، جدالتی، محازیوت او روممتی عزر.

## د مالِک خُدائ د کور ځوکیداران

٢٦ ١ دا هغه ډلې دی چا چې د مالِک خُدائ د کور د ځوکیدارانو په توګه خِدمت
کولو. د قورح د ډلې د قوری زوئ مسلمیاه چې د آسف د خاندان وو، ٢ د هغۀ اووۀ
زامن وُو چې د عُمر په ترتیب داسې دی، زکریاه، یدیعیل، زبدیاه، یتنئ‌ایل، ٣ عیلام،
یهوحنان او الیهوعینی. ٤ د عوبید ادوم هم اتۀ زامن وُو، چې د عُمر په ترتیب داسې
دی، سمعیاه، یهوزبد، یوآخ، ساکار، نتنئ‌ایل، ٥ عمئ‌ایل، یساکار او فعُلتی. ٦-٧ د
عوبید ادوم د مشر زوئ سمعیاه شپږ زامن وُو، عُتنی، رفاایل، عوبید، الزباد، الیهُو او
سماکیاه. د خپل قابلیت په وجه هغوئ ته په خپله ډله کښې زیات عزت مِلاو شو. ٨ د
عوبید ادوم خاندان ټول دوه شپېتۀ ډېر زیات قابل سړی د دې کار دپاره ورکړل. ٩ د
مسلمیاه خاندان اتلس تکړه سړی ورکړل. ١٠ د مراری د قبیلې حوسه ځلور زامن وُو،
سِمری، خپل پلار دې د خپلو زامنو مشر جوړ کړو، اګر چې هغه د ټولو مشر نۀ وو، ١١
خِلقیاه، طبلیاه او زکریاه. د حوسه د خاندان ټول دیارلس کسان د مالِک خُدائ د کور
ځوکیداران وُو. ١٢ د مالِک خُدائ د کور ځوکیداران د هغوئ د کورَنو په مطابق په ډلو
کښې تقسیم شوی وُو او هغوئ ته په هغه کور کښې د نورو لیویانو په شان ذمه وارئ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حواله شوې وې. ۱۳ د هر خاندان وړوکوالى او غټوالى ته کتلو نه بغير به پچه اچولے
شوه چې د کومې يوې دروازې څوکيدارى ورته حواله کړے شى. ۱۴ د شلمياه د پچې
په ذريعه د نمرخاتۀ طرف ته دروازه ووتله او د هغۀ د زوئ زکرياه شمالى طرف ته
دروازه ووتله، دا هغه سړے وو چې هميشه يې د حِکمت مشورې ورکولې. ۱۵ عوبيد
ادوم ته د جنوب طرف ته دروازه حواله شوې وه او د هغۀ زامنو ته د ګودام د کوټو
څوکيدارى حواله شوې وه. ۱۶ سفيم او حوسه ته د نمرپريواتۀ طرف ته دروازه او په
پاسنۍ لار باندې د سلکت دروازه حواله شوې وه. د څوکيدارۍ ذمه وارۍ په يو بل پسې
په مقررو وختونو کښې تقسيم کړے شوې وې. ۱۷ نمرخاتۀ طرف ته هره ورځ شپږو
څوکيدارانو کار کولو، په شمالى طرف باندې څلورو او په جنوبى طرف باندې څلورو
څوکيدارانو کار کولو. څلور څوکيداران به هره ورځ د ګودام په کوټو باندې مقررولے
شول، چې په هره يوه کوټه باندې دوه دوه ؤو. ۱۸ د نمرپريواتۀ طرف ته دربار سره په
لاره څلور څوکيداران ؤو او په خپله په دربار باندې دوه څوکيداران ؤو. ۱۹ دا د قورح
او د مرارى ډلو د څوکيدارۍ ذمه وارۍ دى.

## د مالِک خُدائ د کور نورې ذمه وارۍ

۲۰ نور ليويان د مالِک خُدائ د کور د ګودامونو ذمه وار ؤو او په هغه ګودامونو کښې
خُدائ پاک ته وقف شوى څيزونه پراتۀ ؤو. ۲۱ د جيرسون په ډله کښې د لِبنى د خاندان
نه يحىايل مشر وو. ۲۲ د لعدان دوه نور زامن زيتام او يوايل د مالِک خُدائ د کور د
خزانو مشران ؤو. ۲۳ د عُمرام، اِضهار، حبرون او عُزىايل اولاد ته هم ذمه وارۍ
حواله شوې وې. ۲۴ د موسىٰ زوئ جيرسوم د قبيلې سبوايل د مالِک خُدائ د کور د
خزانې مشر آفسر وو. ۲۵ د اِلىعزر د طرف نه د جيرسوم خپلوان رحبياه، يشعياه،
يورام، زِکرى او سلوميت ؤو. ۲۶ سلوميت او د هغۀ خپلوان د هغه خزانو مشران ؤو په
کومو کښې چې هغه تُحفې پرَتى وې چې هغه داؤد بادشاه، د کورَنو مشرانو او وړو او

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غټو فوجی آفسرانو مالِک خُدائ ته وقف کړې وې. ۲۷ هغوئ څۀ هغه مالِ غنيمت
واخستلو کوم چې هغوئ په جنګ کښې قبضه کړے وو او دا يې وقف کړو چې د مالِک
خُدائ په کور کښې استعمال شی. ۲۸ سلوميت او د هغۀ خاندان د هغه هر څيز مشران
وُو چې کوم د مالِک خُدائ په کور کښې د استعمالېدلو دپاره وقف وُو، سره د هغه تُحفو
چې سموئيل پيغمبر، ساؤل بادشاه، د نير زوئ ابنير، او د ضروياه زوئ يوآب راوړې
وې.

## د نورو ليويانو ذمه وارئ

۲۹ د اِضهار په ډله کښې کنعنياه او د هغۀ زامنو ته د مالِک خُدائ د کور نه علاوه ذمه
وارئ حواله شوې وې: هغوئ به حِساب کِتاب ساتلو او د بنی اِسرائيلو لانجې به يې
هوارولې. ۳۰ د حبرون د قبيلې نه حسبياه او د هغۀ اوولس سوه خپلوان، چې تکړه
سړی وُو هغوئ د اُردن سيند نمرپرېواتۀ طرف ته په اِسرائيل کښې د مالِک خُدائ د
خِدمت او د بادشاه د کار مشران مقرر شوی وُو. ۳۱ يرياه د حبرون د اولاد مشر وو. د
داؤد بادشاه د بادشاهۍ په څلوېښتم کال د حبرون د اولاد نسب‌نامه معلومه کړے شوې
وه او د دې خاندان تکړه فوجيان موندلے شوی وُو چې د جِلعاد په علاقه يعزير کښې
اوسېدل. ۳۲ د يرياه په خپلوانو کښې دوه زره او اووۀ سوه تکړه سړی وُو. داؤد بادشاه
هغوئ د اُردن سيند نمرخاتۀ طرف ته ولېږل او هغوئ يې د روبين، جاد او منسی د نيمې
قبيلې مشران مقرر کړل. هغوئ د هغه ټولو کارونو ذمه وار وُو چې د هغې تعلق د خُدائ
پاک او د بادشاه د خِدمت سره وو.

## فوجی مشران او فوجی ډلې

۲۷ ۱ دا د بنی اِسرائيلو د وړو او غټو آفسرانو، او د نورو فوجی آفسرانو تفصيل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دے چا چې د بادشاهۍ د فوجی ډلو مشری کوله. د هرې قبيلې څليريشت زره فوجيانو
د کال په يوه مياشت کښې فوجی خِدمت کولو. ۲-۱۵ دا د هرې مياشتې دپاره فوجی
آفسران وُو: اوله مياشت، د زبدیاېل زوئ يسوبعام چې هغه د فارص د قبيلې يو کس
وو، چې دا د يهوداه قبيلې يوه حِصه ده. دويمه مياشت، د اخوحی اولاد دودی. مِقلوت
په هغهٔ پسې دويم مشر وو. دريمه مياشت، د يهويدع اِمام زوئ بناياه، دا د هغه قبيلې
مشر وو چې "ديرش ګون" بللے شوه. د هغهٔ زوئ عميزباد د هغهٔ نه پس د دې قبيلې
مشر جوړ شو. څلورمه مياشت، د يوآب ورور عساهيل. د هغهٔ نه پس د هغهٔ زوئ زبدياه
مشر جوړ شو. پينځمه مياشت، د اِضهار د قبيلې نه سمهُوت. شپږمه مياشت، د تقوع د
عقيس زوئ عيرا. اوومه مياشت، د فلون د علاقې نه د اِفرائيم د قبيلې نه خلص. اتمه
مياشت، د حوسه سِبکی. هغه د زارح د قبيلې وو، چې د يهوداه د قبيلې يوه برخه وه.
نهمه مياشت، د بنيامين قبيلې په علاقه کښې د عنتوت نه ابيعزر. لسمه مياشت، د
نطوفاتی مهری. هغه د زارح د قبيلې کس وو. يوولسمه مياشت، د اِفرائيم په علاقه کښې
د فِرعاتون نه بناياه. دولسمه مياشت، د نطوفاتی خلدی. هغه د عتنیاېل اولاد وو.

## د بنی اِسرائيلو په قبيلو باندې آفسران

۱۶-۲۲ دا د بنی اِسرائيلو د قبيلو د مشرانو تفصيل دے: د روبين د زِکری زوئ
اِلیعزر، د شمعون د معکه زوئ سفطياه، د ليوی د قمواېل زوئ حسبياه، د هارون
صدوق، د يهوداه اليهُو، چې د داؤد بادشاه يو ورور وو، د يساکار د ميکائيل زوئ
عُمری، د زبولون د عبدياه زوئ اِسماعيه، د نفتالی د عزرائيل زوئ يريموت، د اِفرائيم د
عززياه زوئ هوسيع، د نمرپريواتهٔ منسی د فداياه زوئ يواېل، د نمرخاتهٔ منسی د زکرياه
زوئ عدو، د بنيامين د ابنير زوئ يعسیاېل، د دان د قبيلې د يروحام زوئ عزراېل. ۲۳ د
کومو خلقو عُمر چې د شلو کالو نه کم وو نو داؤد بادشاه د هغوئ مردمشماری ونهٔ
کړه، ځکه چې مالِک خُدائ وعده کړې وه چې هغه به بنی اِسرائيليان د آسمان د ستورو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شان ډېر تېر کړی. ۲۴ د ضرویاه زوئ یوآب مردمشماری شروع کړه، خو مکمله يې
نۀ کړه. خُدائ پاک د مردمشمارئ په وجه بنی اِسرائیلو له سزا ورکړه، نو ځکه د داؤد
بادشاه په سرکاری حِساب کِتاب کښې د هغې آخری تعداد ونۀ لیکلے شو.

## د شاهی جائیداد اِنتظام

۲۵-۳۱ دا د هغه کسانو تفصیل دے چا چې د شاهی جائیداد اِنتظام کولو: د عدئ‌ایل
زوئ عزماوت د شاهی ګودامونو مشر وو. د عُزیاه زوئ یونتن د هغه وړو ګودامونو مشر
وو کوم چې په کلو، وړو ښارونو او قلعو کښې وُو. د کلوب زوئ عزری د پټو د
زمیدارانو مشر وو. د راما سِمعی د انګورو د باغونو مشر وو. د شفمی زبدی د میو د
جوړولو مشر وو. د جدر نه بعل حنان د نمرپربواتۀ د غرونو په لمن کښې د زیتُونو او د
چِنار د ونو مشر وو. یوآس د زیتُونو تېلو ذخیره کولو مشر وو. د شارون سِطری د
شارون په مېدان کښې د څاروو ذمه وار وو. د عدلی زوئ سافط په وادئ کښې د څاروو
ذمه وار وو. یو اِسمٰعیلی اوبِل د اوښانو ذمه وار وو. د مرونوت یهدیاه د خرونو ذمه وار
وو. یو هاجری یازیز د ګډو او چېلو ذمه وار وو.

## د حضرت داؤد مشیران

۳۲ د داؤد بادشاه ترۀ یونتن یو تکړه مشیر او عالِم وو. هغه او د حکمونی زوئ یحی‌ایل
د بادشاه د زامنو د تعلیم ذمه وار وُو. ۳۳ اخی‌تُفل د بادشاه مشیر وو او حوسی ارکیائ
د بادشاه ملګرے وو. ۳۴ د اخی‌تُفل د مرګ نه پس، ابیاتار او د بنایاه زوئ یهویدع
مشیران جوړ شول. یوآب د شاهی فوج مشر وو.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مالِک خُدائ د کور جوړولو دپاره د حضرت داؤد هدايات

۲۸ ۱ داؤد بادشاه د بنى اِسرائيلو ټولو آفسرانو له حُکم ورکړو چې په يروشلم کښې
راغونډ شئ. نو د قبيلو ټول آفسران، هغه آفسران چا چې د بادشاهئ اِنتظام کولو، د
فوجى ډلو مشران، د بادشاه او د هغهٔ د زامنو د جائيداد او د څاروو ذمه وار کسان، د
محل ټول آفسران، تکړه فوجيان او نور بهادر سړى په يروشلم کښې راغونډ شول. ۲
داؤد د هغوئ په وړاندې ودرېدلو او تقرير ئې ورته وکړو، ”زما خلقو او زما ورونړو، ما ته
غوږ ونيسئ. ما دا اراده کړې وه چې د مالِک خُدائ د لوظ صندوق دپاره د آرام ځائ
يعنې د مالِک خُدائ زمونږ د خُدائ پاک د پښو چوکئ جوړه کړم. ما د هغهٔ دپاره د يو
کور د جوړولو تيارے کړے دے. ۳ خو خُدائ پاک ما ته وفرمائيل چې تهٔ به زما د
نوم دپاره يو کور نهٔ جوړوې، ځکه چې تهٔ يو جنګيالے ئې او وينه دې توئ کړې ده. ۴
مالِک خُدائ د بنى اِسرائيلو خُدائ پاک زما د پلار د مکمل خاندان نه زهٔ خوښ کړے يم
چې د تل دپاره په بنى اِسرائيلو حکومت وکړم. هغهٔ د مشرئ کولو دپاره د يهوداه قبيله
خوښه کړه او د يهوداه نه ئې زما د پلار خاندان خوښ کړو. دا د هغهٔ خوښه وه چې د
خپلو ورونړو نه ئې زهٔ خوښ کړم او په ټولو بنى اِسرائيلو ئې بادشاه جوړ کړم. ۵ هغهٔ
ما له ډېر زامن راکړل او د هغه ټولو نه ئې سليمان خوښ کړو چې د مالِک خُدائ په
بادشاهئ يعنې په ټولو بنى اِسرائيلو باندې حکومت وکړى. ۶ مالِک خُدائ ما ته
وفرمائيل چې ستا زوئ سليمان هغه څوک دے چې هغه به زما کور جوړ کړى. هغه ما
د دې دپاره خوښ کړے دے چې زما زوئ وى او زهٔ به د هغهٔ پلار يم. ۷ کهٔ هغه زما
ټول قانون او حُکمونه هم هغه شان منى لکه څنګه ئې چې نن منى نو زهٔ به د هغهٔ
بادشاهى د هميشه دپاره قائمه وساتم. ۸ نو اوس زما خلقو، زمونږ د خُدائ پاک او د
مالِک خُدائ د خلقو بنى اِسرائيلو د غونډې په مخکښې زهٔ تاسو ته وايم چې هغه هر څهٔ
هم هغه شان پوره منئ چې مالِک خُدائ زمونږ خُدائ پاک د هغې حُکم راکړے
دے، نو چې دا ښهٔ مُلک ستاسو ميراث وى او چې د هميشه دپاره ئې خپلو راتلونکو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نسلونو ته منتقل کړئ.“ (۹) او هغهٔ سليمان ته وفرمائيل، ”زما زويه، زهٔ تا ته وايم چې د
پلار خُدائ پاک وپېژنه او د زړهٔ د اخلاصه او د خپلې مرضۍ سره د هغهٔ خِدمت کوه.
هغه زمونږ ټول فکرونه او خواهشونه معلوموی. کهٔ تهٔ د هغهٔ طلب کوې نو پېدا به يې
کړې، خو کهٔ تهٔ د هغهٔ نه اوړې، نو هغه به تا د تل دپاره پرېږدی. (۱۰) تهٔ په دې پوهه شه
چې مالِک خُدائ تهٔ د هغهٔ د مقدس کور جوړولو دپاره خوښ کړے يې. نو تکړه شه او
دا کار وکړه.“ (۱۱) داؤد سليمان ته د مالِک خُدائ د کور د ټولو عمارتُونو، د برنډو، د
ګودام د کوټو او نورو ټولو کوټو او د زيات مقدس ځائ نقشه وښودله، چرته چې د ګناه
دپاره کفاره ادا کيږی. (۱۲) د هغهٔ په ذهن کښې چې د دربارونو او د دې نه ګېرچاپېره
کوټو او د مالِک خُدائ د کور د سامان دپاره د ګودامونو او مالِک خُدائ ته د وقف
شوو تُحفو کومه نقشه وه نو هغه يې هم ورته وښودله. (۱۳) داؤد هغهٔ ته د اِمامانو او
ليويانو د ذمه وارو ادا کولو اِنتظام، د مالِک خُدائ د کور د کار کولو او د کور د ټولو
لوښو خيال ساتلو طريقه هم وښودله. (۱۴) هغهٔ ورته دا طريقه هم وښودله چې د لوښو د
جوړولو دپاره به څومره سپين زر او سرهٔ زر استعماليږی، (۱۵) يعنې هرې يوې ډيوې او
ډيوټ د جوړولو دپاره، (۱۶) د سپينو زرو د مېزونو د جوړولو او د سرو زرو د هر يو مېز
دپاره چې په دې باندې خُدائ پاک ته پېش کړے شوې روټۍ پراته وه. (۱۷) هغهٔ ورته دا
هم ووئيل چې د درې غاښو، جامونو او منګو په جوړولو کښې څومره سوچه سرهٔ زر او
د لوښو په جوړولو کښې به څومره سپين زر او سرهٔ زر استعماليږی، (۱۸) او د هغه
قربانګاه د جوړولو دپاره څومره سوچه سرهٔ زر چې په هغې باندې خوشبوئی سوزولے
شوه او د وزرو والا هغه مخلوق د جوړولو دپاره چې د هغې وزر د مالِک خُدائ د لوظ
صندوق دپاسه خوارهٔ وُو. (۱۹) داؤد بادشاه وفرمائيل، ”دا ټول تفصيل په هغه نقشه کښې
ليکلے شوے دے چې مالِک خُدائ په خپله ما له راکړې وه.“ (۲۰) داؤد بادشاه خپل
زوئ سليمان ته وفرمائيل، ”تکړه شه او اراده مضبوطه کړه. کار شروع کړه او چې ونهٔ
يرېږې او نه بې‌حوصلې شې. مالِک خُدائ زما خُدائ پاک به ستا مل وی. هغه به تا نهٔ
پرېږدی، خو هغه به تر هغې پورې تا سره وی چې د هغهٔ يعنې د مالِک خُدائ د کور کار

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ختم شوے نۀ وی. ﴿۲۱﴾ اِمامانو او ليويانو ته ذمه وارئ حواله شوې دی چې د مالِک
خُدائ په هغه کور کښې يې وکړی. د هر قِسم مهارت کاريګران د زړۀ نه غواړی چې ستا
مدد وکړی او ټول خلق او د هغوئ مشران ستا د حُکم لاندې دی.“

## د مالِک خُدائ د کور د جوړولو دپاره نذرانې

۲۹ ﴿۱﴾ داؤد بادشاه ټولې غونډې ته وفرمائيل، ”زما زوئ سليمان هغه څوک دے
چې خُدائ پاک خوښ کړے دے، خو هغه لا هلک او ناتجربه‌کاره دے. کوم کار چې
کېدونکے دے هغه ډېر لوئ دے، ځکه چې دا د انسانانو محل نۀ دے بلکې د مالِک
خُدائ، خُدائ پاک کور دے. ﴿۲﴾ ما د خپل خُدائ پاک د کور د سرو زرو، سپينو زرو،
پيتلو، اوسپنې، لرګی، د اونيکس کاڼو او جواهراتو، د ښائسته کاڼو ټوکړو او د سنګِ
مرمر د مِقدار تيارولو هر کوشش کړے دے. ﴿۳﴾ د دې هر څۀ نه علاوه، چې ما د
مخکښې نه تيار کړی دی د خُدائ پاک د کور سره زما د مينې په وجه ما خپل سپين زر
او سرۀ زر هم ورکړی دی. ﴿۴﴾ د مالِک خُدائ د کور په دېوالونو باندې د سرو زرو او
سپينو زرو پترو خېژولو دپاره ما د اوفير د سلو ټنو نه زيات سرۀ زر او تقريباً دوه سوه
او څلويښت ټنه سوچه سپين زر هم ورکړی دی ﴿۵﴾ او د هغه ټولو څيزونو دپاره مې دا
ورکړی دی چې ماهِر کاريګران به يې جوړوی. نو اوس داسې نور څوک شته چې مالِک
خُدائ له نذرانې ورکړی؟“ ﴿۶﴾-﴿۷﴾ بيا د ډلو مشرانو، د قبيلو آفسرانو، د فوج مشرانو، د
شاهی جائيداد اِنتظام کوونکو د مالِک خُدائ د کور د کار دپاره دا څيزونه ورکړل: د يو
سل او اويا ټنو نه زيات سرۀ زر، د درېو سوو او دېرشو ټنو نه زيات سپين زر او تقريباً
شپږ سوه او شل ټنه زېړ او د درېو زرو او څلورو سوو ټنو نه زياته اوسپنه. ﴿۸﴾ د چا
سره چې قيمتی کاڼی وُو نو هغه يې د مالِک خُدائ د کور د خزانې دپاره ورکړل، چې د
هغې اِنتظام د جيرسون قبيلې د ليوی قبيلې يحی‌ايل کولو. ﴿۹﴾ خلقو د زړۀ د اخلاصه
څيزونه ورکول او هغوئ په دې خوشحاله وُو چې څومره زيات يې ورکړی دی. داؤد

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بادشاه هم ډېر زيات خوشحاله وو.

## د حضرت داؤد د خُدائ پاک ثناء صِفت کول

۱۰ هلته د ټولې غونډې په مخکښې داؤد د مالِک خُدائ ثناء صِفت وکړو. هغۀ
وفرمائيل، ”زمونږ د پلار نيکۀ يعقوب مالِک خُدائ، خُدائ پاکه، ستا ثناء صِفت دې د
هميشه دپاره وی. ۱۱ تۀ لوئ او طاقتور، د شان او شوکت والا او عزتمند يې. په زمکه
او آسمان کښې هر څۀ ستا دی او اے مالِک خُدايه، تۀ په هر څۀ باندې عظيم بادشاه او
حکمران يې. ۱۲ عزت او دولت ستا نه راځی، تۀ په خپل طاقت او قوت سره په هر څۀ
حکومت کوې، او تۀ کولے شې چې هر څوک لوئ او طاقتور کړې. ۱۳ اوس زمونږ
خُدايه پاکه، مونږ ستا شُکر کوُو او مونږ ستا د جلال نه د ډک نوم ثناء صِفت کوُو. ۱۴
خو بيا هم په حقيقت کښې زۀ او زما خلق تا له هيڅ هم نۀ شُو درکولے، ځکه چې هر يو
څيز ستا د طرف نه نعمت دے او مونږ صِرف تا له هغه څۀ واپس درکړی دی چې څۀ
ستا وُو. ۱۵ مالِکه خُدايه، تا ته پته ده چې زمونږ د پلار نيکۀ په شان مونږ خپل ژوند د
مسافرو په شان په يو ځائ بل ځائ کښې تېر کړے دے، زمونږ ژوند د تېرېدونکی
سورې په شان فانی دے. ۱۶ مالِکه خُدايه، زمونږ خُدايه پاکه، مونږ دا ټول دولت ستا د
کور د جوړولو دپاره راوړے دے چې ستا د نوم درناوے وشی، خو دا ټول دولت ستا نه
راغلے وو او دا ټول ستا دے. ۱۷ ما ته پته ده چې تۀ د هر چا زړۀ معلوموې او د خلقو
په صداقت خوشحاليږې. په روغ نيت او خلوص سره ما دا هر څۀ تا له درکړی دی او
ما ته پته لګېدلې ده چې کوم خلق دلته راغونډ شوی دی هغوئ تا له څومره په شوق او
خوشحالئ سره نذرانې راوړی. ۱۸ مالِکه خُدايه، زمونږ د پلار نيکۀ اِبراهيم، اِسحاق او
يعقوب خُدايه پاکه، ستا د خپلو خلقو په زړۀ کښې تا سره دا مينه د هميشه دپاره
مضبوطه وساته او د هغوئ زړونه وفادار وساته. ۱۹ زما د زوئ سليمان په زړۀ کښې
دا جذبه واچوه چې ستا ټول حُکمونه ومنی او هغه کور جوړ کړی چې د کومې دپاره ما

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا تیارے کړے دے.“ ۲۰ بیا داؤد ټولې قبیلې له حُکم ورکړو، ”د مالِک خُدائ ستاسو
د خُدائ پاک ثناء صِفت وکړئ.“ نو ټولې غونډې د مالِک خُدائ، د خپل پلار نیکۀ د
خُدائ پاک ثناء صِفت وکړو او هغوئ لاندې ټیټ شول او مالِک خُدائ او بادشاه له یې
عزت ورکړو. ۲۱ په ورپسې ورځ هغوئ د قربانئ په توګه څناور حلال کړل، مالِک
خُدائ ته یې وقف کړل او بیا یې خلقو له ورکړل چې وې خوری. د دې نه علاوه، هغوئ
یو زر غوَیی، یو زر ګډان او یو زر ګډُوری هم حلال کړل، چې په قربانګاه باندې یې پوره
وسوزول. هغوئ د میو نذرانې هم راوړې. ۲۲ چې هغوئ د مالِک خُدائ په حضور کښې
خوراک څښاک وکړو نو په هغه ورځ هغوئ ډېر خوشحاله وُو. هغوئ په دوېم ځل
سلیمان بادشاه جوړ کړو. هغوئ د مالِک خُدائ په نوم سلیمان د بادشاه په توګه او
صدوق د اِمام په توګه مقرر کړو. ۲۳ نو سلیمان د خپل پلار داؤد نه پس په هغه تخت
باندې کښېناستو کوم چې مالِک خُدائ قائم کړے وو. هغه یو کامیاب بادشاه وو او د
بنی اِسرائیلو ټول قوم هغه منلو. ۲۴ ټولو آفسرانو، فوجیانو او تر دې پورې چې د داؤد
نورو زامنو هم دا لوظ وکړو چې د سلیمان بادشاه وفادار به وی. ۲۵ مالِک خُدائ
سلیمان د ټول قوم په نظر کښې عزتمند کړو او د هغه نورو ټولو بادشاهانو نه یې زیات
شان او شوکت ورکړو چې کوم به په بنی اِسرائیلو بادشاهی کړې وه.

## د حضرت داؤد وفات کېدل

۲۶ نو د یَسی زوئ داؤد په ټولو بنی اِسرائیلو باندې بادشاهی کوله. ۲۷ هغۀ څلوېښتو
کالو پورې بادشاهی کوله. هغۀ په حبرون کښې اووۀ کاله او په یروشلم کښې درې دېرش
کاله بادشاهی وکړه. ۲۸ هغه یو عزتمند او مالدار سړے وو او ښۀ په پوخ عُمر کښې مړ
شو او د هغۀ زوئ سلیمان د هغۀ نه پس بادشاه جوړ شو. ۲۹ د داؤد بادشاه تاریخ د
اول نه واخله تر آخره پورې د دې درېو پیغمبرانو په کتابونو کښې لیکلے شوے دے،
سموئیل، ناتن او جاد. ۳۰ د تاریخ دا کتابونه وائی چې هغۀ څنګه حکومت وکړو او هغه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خومره طاقتور وو او هغه هر څۀ چې په هغۀ، بنی اِسرائيلو او ګېرچاپېره بادشاهتونو
شوی وُو.


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.